کامیاب زندګی او د هغې د اصولو په موضوع باندې
یو انتهائی ښائسته کتاب.



# د کامیابۍ تصور او اصول




مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درّانی
صاحب حفظه الله



العلم پبلیکیشنز

# د کامیابی تصور او اصول

ابو معاویہ مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

# فهرست مضامین

دري تصوّرات:........................................ 8
دکامیابۍ تصور ........................................ 8
دکامیابۍ او بهترین ژوندتیرولودپاره نبوی نسخې ........................ 12
کامیابي څه څیز دي؟........................................ 15
کامیابي مګر څنګه؟ ........................................ 19
دکامیابۍ اهم اصول ........................................ 24
دکامیاب خلقو خوبیانې ........................................ 30
ښه عادتونه ........................................ 33
دعادتونو جوړول او پریخودل: ........................................ 34
ایمانداری: ........................................ 35
عاجزی یا عاجز مزاجی: ........................................ 36
صبر: ........................................ 36
شکرګزاری: ........................................ 37
بهادر جوړ شۍ : ........................................ 37
قدرشناس جوړشۍ : ........................................ 38
اول په نورو پوهه شه بیانورو لره پوهه کړه : ........................ 39
د زده کړې او خودلو عمل او مسلسل کوشش: ........................ 40
د حالاتو سره مثبت تبدیلي: ........................................ 41
د نورو سره همدردی او دتعاون نیت :........................................ 42
د بزرګانو نه دعا اخستل : ........................................ 43

خود اعتمادی اوکامل یقین : ........................................ 43
د یقین حاصلولو طریقې:............................................ 46
منظم ژوند : ........................................................ 47
خپل ځان منظم کول :.............................................. 48
خپل کارونو لره منظم کول :....................................... 49
ډائرې لیکل :......................................................... 49
د وخت قدر : ........................................................ 50
مقصد متعین او معلوم کول : ....................................... 52
وژن او مشن:........................................................ 55
منصوبه بندی(پلاننګ):.............................................. 57
منصوبې په درې قسمه وی :......................................... 60
فریم ورک او ټیم ورک : ............................................ 62
ټیم ورک:............................................................ 63
مثبت ذهنی رویه : .................................................. 64
صحیح او په وخت فیصله : .......................................... 68
د روستو کولو دعادت خاتمه :..................................... 69
د روستو کولو عادت لره ختم کړی څنګه : ..................... 69
دمطالعې عادت:..................................................... 71
د مطالعې قسمونه : .................................................. 73
د نصابی کتابونو مطالعه: ........................................... 73
دادب مطالعه:....................................................... 73
معلوماتی مطالعه:.................................................... 74

د ژوند بدلیدو والا مطالعه :........................74
مطالعه ښنګه اوکړې شی؟........................76
ښه تعلقات جوړول :........................78
دتعلقاتو جوړولو طریقې :........................80
د ښه مُرشد،رهنماانتخاب :........................81
ښه صحت :........................82
متوازن خوراک:........................83
خوب :........................85
ورزش:........................89
آرام اوتفریح:........................90
تفریحی سیل :........................91
لیډر شپ (قیادت)........................92
نه ختمیدو والاجرأت:........................95
خود اعتمادی:........................95
ضبط نفس:........................95
د لیډر شپ بنیادی عناصر........................95
دمشنرئ کیدل :........................95
دانصاف سخت احساس:........................96
دفیصلې قوت:........................96
په منصوبون کښې قطعیت:........................96
زیات کار کول :........................96
خوشګواره شخصیت:........................97

جاذب نظر شخصیت:......................................98
همدردی: ......................................99
مسلسل زده کړه:......................................100
خدمت خلق:......................................100
مثبت رویه :......................................100
رحم دلی:......................................100
صبر وتحمل: ......................................101
پرجوشه کیدل : ......................................101
استقامت:......................................101
د برداشت قوت : ......................................101
معتدل مزاجی: ......................................101
عزت نفس: ......................................102
د متحرک کولو صلاحیت:......................................102
دحسن سلوک بنیادی درې طریقې ......................................103
اصول①: ......................................103
اصول②: ......................................103
داظهار خیال او حسن سلوک ......................................103
بنیادی اصول ......................................103
اصول③: ......................................104
دخلقو په زړونوکښې د کور جوړولو،د خوښ......................................105
جوړیدلو شپږ طریقې ......................................105
اصول①:په نورو خلقوکښې ربښتونی دلچسپی اخله!......................................105

اصول۲:مُسکې کیږئ! ........................................ 105
اصول۳:په نوم اخستلو سره آواز کول! ........................ 105
اصول۴:ښه اوریدونکې جوړ شئ ! .......................... 106
اصول۵:د بل سړی په خبره کښې دلچسپی واخلئ!.............. 106
اصول۶:بل کس ته دهغه د اهمیت احساس ورکړئ.................. 107
خلقو لره دهم خیال جوړولو دولس اصول:.......................... 108
اصول۱:تاسو په بحث وتکرار نه شي ګټلې ! ....................... 108
اصول۲:دبل سړی دنقطه نظر احترام اوکړئ- چاته دا مه وائې چه هغه په غلطې باندې دې -................................................ 108
اصول۳:که ستاسو نه غلطی اوشی نو سمدست اعتراف کوئ په فیاضانه طورباندې ئې تسلیموئ! ........................................ 109
اصول۴:خبرې اترې همیشه په دوستانه انداز سره شروع کړئ!......... 109
اصول۵:دبل سړی دخلې نه دخبرو اترو په شروع کښې هم'ها'اووایه!. 110
اصول۶:بل سړی ته زیات نه زیات دخبرو موقع ورکړئ!.............. 110
اصول۷:مخکښې سړی ته دا احساس ورکړئ، ........................ 111
اصول۸:په ډیره ایمانداریٔ سره څیزونو لره دبل سړی په نقطه نظر سره دکتلو کوشش اوکړئ!.................................................. 111
اصول۹:د نورو د خیالاتو او خواهشاتو متعلق ستاسو رویه همدردانه کیدل پکار دی-........................................................ 112
اصول۱۰:دخلقو نیکو جذباتو لره متاثره کړئ! ........................ 112
اصول۱۱:خپل خیالاتو لره په ډرامائی انداز کښې پیش کړئ! .............. 112
اصول۱۲:د بل سړی صلاحیتونو لره اوچیړئ!............................ 113

لیډر جوړشئ! بنیادی نهه اصول : ........................................ 113
اصول①:خپله خبره، بل سړی ته په دپرخلوص تعریف وتحسین نه شروع کړئ!.................................................................................... 113
اصول②:دخلقو توجه دهغوی غلطو طرفته په واسطې سره واړوئ ! ..... 113
اصول③:په نورو خلقو باندې دنکته چینئ نه مخکښې خپلو غلطو لره ذکر کړئ!..................................................................................... 114
اصول④:دحکم چلولو په ځای سوال اوکړئ! ............................... 114
اصول⑤:بل سړې دشرمندګئ نه بچ کړئ! .................................. 114
اصول⑥:تعریف اوکړئ !.......... .................................. 114
اصول⑦:د هرسړی تعریف اوکړئ دې دپاره چه هغه ددې تعریف په معیار باندې د پوره کیدو کوشش اوکړی-.................................. 115
اصول⑧:حوصله افزائی اوکړئ! غلطئ لره قابل د اصلاح باور کړئ!..... 115
اصول⑨:د نورو نه کار په داسې طریقه واخلئ چه هغه ئې په خوشحالئ سره اوکړي-...................................................................... 115
مأخذ او د مزید مطالعې دپاره کتابونه ........................ 116

# د کامیابئ تصور

انسانی فطرت دې چه هر سړې په هر وخت او هر کار کښې کامیابي لټوی۔ هغه غواړی چه هغه ته د هر قسم غم، پریشانئ او مصیبت نه خلاصئ ملاؤ شی او هر وخت په هر موقعه باندې خوشحاله او کامیاب و کامران وی۔

**درې تصوّرات:**

د کامیابئ متعلق په دنیا کښې درې تصوّرات موندلې شی:

۱- مغربي تصور

۲- اسلامی تصور

۳- دنالائق او سست خلقو تصور

① مغرب او مغربي مفکرینو کامیابئ لره صرف د دنیاوی کامیابئ پورې محدود ساتلې ده۔ د دوی په نزد دنیاوی کامیابي او ترقي، مطلوب او مقصود ده او همدا دهغوی په نزد انسانی معراج دې۔هغه خلق چه صرف دنیاوی کامیابئ او ترقئ دپاره ټول کوشش کوی او آخرت لره ئې بالکل هیر کړې دې، د هغې په باره کښې قرآن فرمائی:

﴿فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ﴾

[بقره:۲۰۰]

”بس په خلقو کښې بعضې داسې دی چه وائی اې زمونږ ربه! چه کوم څه مونږ ته راکوې، په دنیا کښې ئې راکړه حالانکه په آخرت کښې د دوی هیڅ حصه نشته دې“.

افسوس چه د کامیابۍ دا تصور اوس د مسلمانانو په معاشره کښې هم خور شو، نن د مسلمانانو په نظر کښې هم د دنیا ترقی او کامیابی هرڅه دی۔

② زمونږ د مسلمانانو او او د دین اسلام په نزد د کامیابۍ هغه تصوّر نه دې کوم چه د مغرب په نزد ملاویږی۔ اسلام چه کله د "کامیابۍ" وائی نو د دې نه د دین او دنیا دواړه کامیابۍ مراد وی۔ د مسلمانانو په نزد د "کامیابۍ" تصوّر د معاشرې د روایتی تصور نه څه قدرې مختلف دې۔ زمونږ په نزد د کامیابۍ هم هغه تصوّر دې کوم چه الله تعالی ورکړې دې:

﴿وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾

[بقرة: ۲۰۰]

"او په دې کښې بعضې داسې هم دی چه وائی چه زمونږه ربه! مونږ ته په دنیا کښې هم ښۀ حالت راکړې او په آخرت کښې هم ښۀ حالت راکړې او مونږ لره د جنهم د اُور نه آزاد کړې۔"

اسلام خپل منونکو ته د دنیا او آخرت دواړو د بهترۍ او کامیابۍ حکم ورکړې دې او دې لره ئې زبردسته کامیابی ګرځولې ده۔

﴿ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ﴾ [توبہ:۷۲]

زمونږ د مسلمانانو په نزد د"کامیابۍ" همدا تصوّر دې چه په دواړو جهانانو کښې خلاصې او کامیابې اومومو دلته هم کامیابی ملاؤ شی او هلته هم مو کامیابی قدمونه خکل کړی۔ دین اسلام مونږ ته د دنیاوی کامیابۍ اصول هم خودلې دی، او د آخرت د کامیابۍ طریقه ئې هم خودلې

ده۔

③ دریم تصوّر د سست او نالائق خلقو ده - چه د خپل نالائق توب، کوتاهۍ، سستۍ، غفلت او لاپرواهۍ په وجه سره په دنیا کښې هم کامیابي حاصل نه کړی او د آخرت دپاره هم توښه تیاره نهٔ کړی۔ د داسې سړی متعلق په قرآن کښې وائی۔

﴿خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ﴾ [سورہ حج:۱۱]

"دهٔ ددنیا هم تاوان اوکړو او د آخرت هم،همدا ښکاره خساره ده"۔

یعنی دې سړی ته په دین او دنیا دواړو کښې ناکامی مخې ته کیږی، په دواړو کښې نقصان ملاویږی۔ اوس چه کوم سړې په دنیا یا آخر کښې ناکام کیږی نو د دې ذمه دار هغه پخپله دې ځکه چه د کائناتو خالق د هر سړی دپاره د کامیابۍ او ناکامۍ اصول، ضوابط، قواعد او اسباب ټول څه خودلې دی۔ ځنګه په قرآن کښې دی:

﴿وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ﴾ "او مونږ هغه ته دواړه لارې خودلې دی"۔

د دنیاوی کامیابۍ اصول ئې هم خودلې دی او د آخرت د کامیابۍ طریقه ئې هم خودلې ده -اوس دا د انسان په مرضۍ باندې منحصر ده چه د کومې لارې انتخاب کوی او د چا دپاره کوشش کوی د دنیا دپاره یا د آخرت دپاره یاد دواړو دپاره۔

شاعر څه ښه وئیلې دی۔ ؎

بے عمل دل ہو تو جذبات سے کیا ہوتا ہے
دھرتی بنجر ہو تو برسات سے کیا ہوتاہے
ہے عمل لازمی تکمیل تمنا کےلیے
ورنہ رنگیں خیالات سے کیا ہوتاہے

ترجمه: چه بې عمله زړه وی نو په جذباتو سره څه کیږی، زمکه چه
بنجر وی نو په باران سره څه کیږی، د تمنا آرزو دپاره عمل
لازمی دې، ورنه په رنګین خیالات سره څه کیږی-

بیا د کامیابۍ راز په اخلاص کښې پټ دې- د اخلاص دولت په قربانۍ سره حاصلیږی- څومره چه قربانی زیاته وی، اخلاص به هم دومره زیاتیږی، او قربانی به د هغه زیاتیږی چه د چا ظرف لوې وی او دلوئ ظرف د ډکیدو دپاره د دعاګانو سره د مضبوط تعلق مع الله ضرورت پیښیږی،ګنی دکامیابۍ په ځاې به ناکامی ئې مقدرجوړیږی-

# دکامیابۍ او بهترین ژوندتیرولودپاره نبوی نسخې

یو بانډیچی د رسول اللهﷺ دربار ته حاضر شو او عرض ئې اوکړو،اې د الله رسوله! زۀ څه تپوسونه کول غواړم-

وې فرمائیل : ها! وایه-

بانډیچی عرض اوکړو: یارسول اللهﷺ! زه مالدار(غنی) جوړیدل غواړم-

وئې فرمائیل : قناعت اختیارکړه،مالدار به جوړشې-

عرض ئې اوکړو: زه د ټولو نه لوې عالم جوړیدل غواړم-

وئې فرمائیل : تقوی اختیارکړه،عالم به جوړشې-

عرض ئې اوکړو: عزت والا جوړیدل غواړم-

وئې فرمائیل : د مخلوق په مخکښې لاس مه خوروه،عزت والا به شې-

عرض ئې اوکړو: ښه سړې جوړیدل غواړم-

وئې فرمائیل : خلقو ته فائده رسوه-

عرض ئې اوکړو: عادل جوړیدل غواړم-

وئې فرمائیل : کوم څه چه ځان له خوښوې،هغه بل چاد‌پاره په هم خوښوه-

عرض ئې اوکړو: طاقت ور جوړیدل غواړم-

وئې فرمائیل : په الله تعالی باندې توکل کوه-

عرض ئې اوکړو: دالله تعالی په دربارکښې خاص (دخصوصیت) درجه غواړم-

وئېِ فرمائيل : په کثرت سره ذکر کوه-

عرض ئې اوکړو: په رزق کښې فراخی غواړم-

وئې فرمائيل : هميشه په اودس کښې اوسه-

عرض ئې اوکړو: د دعاګانو قبوليت غواړم-

وئې فرمائيل : حرام مه خوره-

عرض ئې اوکړو: د ايمان تکميل غواړم-

وې فرمائيل : اخلاق ښائسته کړه-

عرض ئې اوکړو: دقيامت په ورځ الله تعالی سره،دګناهونونه پاک کيدو سره ملاويدل غواړم-

وئې فرمائيل : دجنابت نه پس سمدست غسل کوه-

عرض ئې اوکړو: په ګناهونو کښې کمې غواړم-

وئې فرمائيل : په کثرت سره استغفار کوه-

عرض ئې اوکړو: د قيامت په ورځ په نور کښې پاسيدل غواړم-

وئې فرمائيل : ظلم کول پريږده-

عرض ئې اوکړو: غواړم چه الله تعالی په مابانديې رحم اوکړی-

وئې فرمائيل : دالله په بندګانو باندې رحم کوه-

عرض ئې اوکړو: غواړم چه الله زما پرده پوشی اوکړی-

وئې فرمائيل : په خلقو پرده اچوه-

عرض ئې اوکړو: د رسوائې نه بچ کيدل غواړم -

وئې فرمائيل : زنا نه ځان ساته-

عرض ئې اوکړو: غواړم چه د الله اودهغه درسولﷺ محبوب جوړ شم-

وئې فرمائیل : چه الله تعالی او دهغه رسولﷺ ته محبوب وی هغه خپل محبوب جوړ کړه-

عرض ئې اوکړو: د الله تعالی فرمانبردار جوړیدل غواړم-

وئې فرمائیل : د فرائضو اهتمام کوه-

عرض ئې اوکړو: احسان کونکې جوړیدل غواړم-

وې فرمائیل : د الله تعالی داسې بندګی کوه لکه چه ته هغه لره وینې-

عرض ئې اوکړو: اې د الله رسولهﷺ! کوم څیز د ګناهونو نه معافی ورکوی-

وئې فرمائیل : اوښکې، عاجزی او بیماری-

عرض ئې اوکړو: څه څیز د دوزخ اُور لره یخوی-

وئې فرمائیل : د دنیا په مصیبتونو باندې صبر-

عرض ئې اوکړو: دالله تعالیٰ غصه کوم څیزسره یخیږی-

وئې فرمائیل : په پټه صدقه او صله رحمۍ-

عرض ئې اوکړو: د ټولو نه لوې بدی څه ده-

وئې فرمائیل : بد اخلاقی او بخل (شومتوب)-

عرض ئې اوکړو: د ټولو نه لویه نیکی (ښه والې) څه ده-

وئې فرمائیل : ښه اخلاق،تواضع او صبر-

عرض ئې اوکړو: د الله تعالی د غصې نه بچ کیدل غواړم-

وئې فرمائیل : په خلقو باندې غصه کول پریږده-[ سنن ابن ماجہ]

# کامیابی څه شیز دې؟

په دنیا کښې تقریبًا هر سړې د کامیابۍ خواهش لری او کامیاب کیدل غواړم - سوال دا پیدا کیږی چه آخر کامیابی ده څه شیز؟ مختلفو ماهرینو د کامیابۍ مختلف تعریفونه کړې دی-

د دې مطابق په کامیابۍ کښې لاندینی څیزونه شامل دی:

①دهنی سکون ②خوشحالی
③ښه صحت ④د زړه اطمینان
⑤شهرت ⑥دمینې ته ډک په خپل مینځ کښې تعلق
⑦شخصی عزت واحترام ⑧اقتدار
⑨پیژندګلو (Recognition) ⑩په خپله پیشه کښې ترقی حاصلول-
⑪ښه خاندان ⑫دخوښې پیشه
⑬د خپل خوښې مطابق ژوندتیرول-
⑭داسې فرد جوړیدل څنګه چه ته غواړې-
⑮ذاتی تشفی
⑯د یرې او پریشانې او تشویش او اضطراب نه آزادی-
⑰د ژوند اعلیٰ مقصد ⑱خپل مقصد او ګول له حاصلول -
⑲سرورو انبساط ⑳اعلیٰ تعلیم ㉑عزت نفس
㉒مالی بې فکری یعنی تاسوسره د دومره مال کیدل چه د مالیاتو دکمی په وجه سره ته د څه پریشانۍ سره مخ نه شې.

۲۳ او د یو مسلمان په دنیاوآخرت دواړو کښې کامیابي او کامرانی۔
دا خو اوس ابتداء وه، اسلام په مزه مزه د کامیابۍ طرفته روان وو۔ دویم طرفته د عربو کفارو داسلام د نړلو هرممکن کوشش کولو۔ په دې سلسله کښې څو جنګونه شوې وو۔دا رنګه په یو جنګ کښې یو صحابي سخت زخمی شو۔ هغه شهادت ته نزدې وو، هغه هغه وخت آوازونه کول چه:
﴿فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَه﴾ ''د کعبې په رب قسم زه کامیاب شوم''۔
د یو مومن د ټولو نه لویه کامیابي د الله تعالی په لاره کښې ځان قربانول دی۔ په دې وجه سیدناخالد بن ولیدؓ چاچه په ډیر جنګونو کښې حصه اخستې وه، چا چې کله هم د شکست مخ نه وو لیدلې، چه د هغه د بدن داسې حصه نه وه چه د زخمونو د نښو نه خالی نه وو، کله چه آخری وخت راغې نو د هغه د سترګو نه اوښکې روانې وې، هغه غمژنه وو چه ماته شهادت ولې نصیب نه شو۔ بس د یو مومن دپاره اصل کامیابي د آخرت ده او دې سره سره چه دنیاوی کامیابي هم ضروری ده۔
ځکه هر فرد ته خوشحالی او سکون په مختلف انداز سره حاصلیږی۔ او د هر فرد د ژوند مقصد هم مختلف وی، لهذا د هر فرد دپاره د کامیابۍ مفهوم هم مختلف دې یعنی یو طالب علم، کهلاړی، سیاستدان، سائنس دان، دکاندار، تجارتی، د دین عالم او شهید کښې په هر یو کښې د کامیابۍ مفهوم مختلف وی۔
قائداعظم پاکستان جوړول غوښتل او عمران د کینسر هسپتال

او په اقتدار راتلل ئې غوښتل- عبدالستار ایدهی خدمت خلق، غازی علم الدین شهادت او ډاکټر عبدالقدیر ایټم بم جوړولوسره پاکستان لره ناقابل تسخیرئې جوړول غوښتل-

کامیابي یو مسلسل سفر دې، د دې څه منزل نشته دې-کچرې تاسو د کامیابۍ په سفر کښې چرته اودریدلې نو تاسو به زوال پذیر شۍ- د اته لس غریبانانو د یو ځل مدد کولو نه پس کچرې تاسو منع شوې نو ستاسو ترقي اودریده، ترقي چه اودیږی نو ستاسو زوال به شروع شی- دارنګه د یوې کامیابۍ نه پس د دویمې دپاره کوشش شروع کړه، یو ګول دې حاصل کړو نو بیا د دویم تیار کوه، منصوبه بندی کوه- اقبال ساجد څه ښه وئیلې دی: ؎

*پہلی سیڑھی پر قدم رکھ آخری پر رکھ نظر*
*منزلوں کی جستجو میں رائیگاں اک پل نہ ہو*

**ترجمه**:

چاته چه په خپل ذات باندې او د الله تعالی په قدرت باندې یقین نه وی، او څوک چه خپل ځان سپک او کمزورې ګڼړی هغه نه شی کامیابي دې-

واقعي په دنیا کښې څه څیز نا ممکن نشته، بس حوصله، امید، محنت، اخلاص او وژن غوښتل پکار دی-

د شکاګولاء سکولیو استاذ بارک اوباما کله چه د امریکې صدر جوړیدل اوغوښتل او د مقصد دپاره ئې ښه سترې کوشش شروع کړو نو هغه وخت اوباما وئیلې وو چه انسان د قدرت واحد مخلوق دې

چه د هغه دپاره په دنیا کښې څه څيز هم ناممکن نه دې- په دې باندې د ده يو ماهر نفسيات دوست هغه ته اووئيل :"چه ته ماته خپل پنځه څه خوبيانې اوښايه"-

اوباما څه ساعت خاموش وو د دې نه پس ئې اووئيل: "زما اوله خوبي، زهٔ د بيللو نه پس حوصله نه بائيلم۔ دويمه خوبي، زه چه کله څه کار شروع کوم نو بيا په دې کښې وقفه نه کوم۔زما دريمه خوبي، د عام خلقو نفسياتو باندې پوهيږم، زه د هغوی جذبات، احساسات او ضروریاتو باندې پوهيږم۔ زما څلورمه خوبي اخلاص ده، ما ترننه پورې چاته دهوکه نه ده ورکړې، ما کله وعده نه ده ماته کړې، ما کله هم د صلې مخې ته په ايخودلو سره نيکی نه ده کړې او زما پنځمه خوبي اميد دې، ما په بدبدحالاتو کښې هم د اُميدنه لاس نه دې وينځلې۔ زما دوستان زما په باره کښې وائی، چه کچرې دې په تنور کښې اوغورزولې شی د خپلې خُولې په وجه سره به د اُور مړ کولو کوشش کوی"-

هغه چپ شو، د هغه دوست څه ساعت سوچ اوکړو او ددې نه پس ئې اووئيل:"چه زه تاته د يوې شپږمې خوبۍ تحفه درکول غواړم" هغه په خاموشۍ سره ده طرفته اوکتل دوست ئې اووئيل: "ما د دنيا په لويو لويو ليډرانو کښې مشترکه يوه خوبي ليدلې ده، دا ټول خلق د مسکی کيدلو او د سنجيدګۍ د استعمال ماهر وو، په يو منټ کښې مسکې کيدل هم اوپه هغه منټ کښې د هغوی په مخ باندې د مرګ په شان سنجيدګی به هم راتلله، که تا په کومه ورځ د سنجيدګۍ او مسکی کيدلو استعمال زده کړو، نو ته به کامياب ليډرثابت شې"- د دې اوريدو سره هغه د خپل سيټ نه پاسيدو او د هغه مخې ته ټيټ شو او مسکی کيدلو سره ئې اووئيل: "زه

ستاسو د کامیابۍ دپاره دعا ګویم، مسترپر یزیدنټ"۔

## کامیابي مګر څنګه؟

هرڅوک غواړي چه زه په خپل میدان کښې کامیاب شم خو څنګه.؟ د کامیابۍ څو اصول دي- هر کامیاب سړې په شعوري یا غیر شعور طور باندې په دې اصولو باندې عمل کوي-

د هارورډ یونیورسټي د یو ریسرچ مطابق په انساني کامیابۍ او خوشحالۍ کښې د اعلی ذهانت او د اعلی تعلیم کردار صرف پنځلس فی صده دې۔ په دې وجه د حکمت او دانش خاوندان په دې حقیقت باندې فکرمند دي۔ په نورو الفاظو کښې په تعلیمي ادارو کښې تعلیم او معلومات خو فراهم کولې شي خو دې علم لره په مؤثر طور باندې استعمال کول نه شي خودلې، یعنی په تعلیمي ادارو کښې د کامیابۍ بنیادي اصولو په باره کښې څه نه شي خودلې، چه د هغې په وجه سره نوجوان نسل د اعلی ډګري تعلیم باوجود هم کامیابي نه شي حاصلولې، او د خوشحالې نه محروم دي ځکه چه صرف اعلی تعلیم د کامیابي او خوشحالي ضمانت نه دې۔ کچرې نوجوان نسل د اعلی تعلیم سره سره د کامیابۍ د بنیادي اصولو نه هم خبردار دې کړې شي او د عظیم نسل کامیابي او خوشحالي حاصلولې شي۔

کچرې تاسو په کتابونو کښې خودلې شوې ساده اصولو باندې عمل کولو سره مخکښې هم په لکهونو خلق کامیاب او خوشحاله شوې دي- د کامیابۍ اصول خواه څومره شاندار ولې نه وي، بیکاره به وي

ترڅو پورې چه په دې باندې عمل اونکړې شی- دا عمل تاسو ته کول دی-

دارنګه د کامیابۍ ذمه دارۍ قبول کړئ، بهانې مهٔ جوړوې، آرام پسندی پریږدئ او د الله نوم واخلئ او په دې اصولو باندې هم د نن نه عمل شروع کړئ-

کچرې تاسو د مستقل مزاجئ سره په دې اصولو باندې عمل اوکړو نو کامیابي به ستاسو قدمونه خکل کړی- ان شاء الله ما ته ستاسو د کامیابۍ د هغه ماشوم په شان یقین دې چه د ټول کلی والو سره د کلی نه بهر په کهلاؤ میدان کښې دخپل رب نه د رحمت د باران د دعا دپاره وتلې وې- په پوره مجمع کښې صرف د هغه سره چهترۍ وی دې دپاره چه په واپسۍ کښې په باران سره لوند نه شی ځکه چه هغه د خپل رب نه امید او د باران یقین وو-

خو کچرې تاسو په دې اصولو باندې عمل اونکړې نوځنګه چه تاسو مخکښې وئ، د دې کتاب د لوستلونه پس به هم هغسې ئې-

هم دغه شان په قرآن وسنت کښې د مسلمانانو د ترقې دپاره بهترین اصول موجود دی- خو په بد قسمتۍ سره مونږ مسلمانان په دې باندې عمل نه کوو چه د هغې په وجه مونږ په پوره دنیا کښې ذلیل او خوار کیږو-

د نفسیاتو یو اهم اصول دا دې چه کچرې نور خلق څه کار کولې شی نو تاسو ئې هم کولې شې-کچرې نور خلق کامیابي او خوشحالی حاصلولې شی نو یقینًا تاسو هم داسې کولې شی-

د کامیابۍ حاصلولو د کوشش کولو نه مخکښې د کامیابۍ

اصول اوپیژنئ- معلوم کړې چه خلق څنګه کامیاب شو، هغوی د کامیاب کیدو دپاره څه څه اوکړل، نو بیا تاسو هغه اوکړئ اوپه کامیابۍ باندې ثابت قدم پاتې شئ،کوشش مه پریږدئ- کچرې تاسو د کامیابۍ د اصولو مطابق د کامیابۍ حاصلولو کوشش اوکړو نو نه به صرف تاسو کامیاب شئ بلکه د کامیابۍ په کالونو وهلې سفر به په میاشتو کښې اووهئ-

زړه راخونکې خبره دا ده چه اوچتې کامیابۍ حاصلونکی کچرې دې اصولو لره استعمال کولې خو په دوی کښې یو نوی فیصد خلق د دې خبرې نه خبر نه دی چه هغوی به کومو اصولو باندې عمل کولو سره کامیابی حاصل کړه یعنی اکثر کامیاب خلقو ته هم د خپلې کامیابۍ د وجوهاتو خبر نه وی۔ هغه په خپله داخو خودلې شی چه هغه څه څه اوکړل خو هغه ددې ځیز وضاحت نه شی کولې هغه ولې او څنګه اوکړل ؟څه موده مخکښې یو کامیاب صنعت کار سره ملاؤ شوم او د هغه نه مې د هغه د کامیابۍ د راز تپوس اوکړو نو هغه څه ښه جواب رانکړو۔

بیا هم کچرې تاسو د کامیابۍ په سفر باندې د روانیدو نه مخکښې د کامیابۍ اصولو لره اوپیژندل نو بیا به د کامیابۍ سفر آسان او مختصر شی-

اوس سوال پیداکیږی چه د کامیابۍ اصول څه دی- په دې سلسله کښې ډیر خلقو غور و فکر او ریسرچ اوکړو- په دې کښې بنیادی کار یو امریکنی نپولین هل کړې دې- هغه ترپنځویشت کالو پورې کم نه کم دشل زره کامیابو خلقو مطالعه اوکړه- بیا هغه د خپل ریسرچ لره په 1938ءکښې یو کتاب Think and Grow

Richکښې پیش کړل- دغه شان دنیاته ئې په اول ځل د دې فن علم اوشو چه څوک سړې ولې کامیابدې شی او د ناکامۍ وجوهات څه دی؟ د کامیابۍ دا اصول د ژوند په هرمیدان کښې یوشان مؤثر دی-

آیا د کامیابۍ تعلق د اعلی تعلیم، اعلی ډګرۍ، اعلی ذهانت، هنر، مهارت، د سخت محنت یا قسمت سره دې هر کله چه داسې نه ده- معروف یونیورسټی هارورډ، کښې په دې موضوع باندې په کلونو ریسرچ اوشو چه خلق ولې کامیابیږی- دهارورډ د تحقیق مطابق په کامیابۍ او ترقۍ کښې د اعلی تعلیم، اعلی ډګرۍ، ذهانت، مهارت او د هنرکردار صرف پنځلس فی صده دې هرکله چه دمثبت رویې(Attitude) کردار۸۵ فی صد دې -

دغه شان اعلی تعلیم یا ډګری هم د شاندار مستقبل او د مالی خوشحالۍ ضمانت نه دې- د دنیا د ټولو نه لوئ مؤجد ایډیسن،چاچه د زرو نه زیات ایجادت کړې دی-صرف درې میاشتې ئې په سکول کښې تعلیم حاصل کړو- معروف امریکنې مقرر، مصنف او کاروباری برائن ټریسی اندازه لګولې ده چه په امریکه کښې پنځوس فی صده کالجونه ګریجویټ دداسې خلقو نوکران دی چه هغوی میټرک هم نه دې پاس کړې- د یو امریکنې سروې رپورت مطابق دامریکې څلور زره مالدار ترین افراد داسې دی چه هغوی صرف میټرک پاس کړې دې-

کامیاب، خوشحال او دولت مند صرف د خپل تعلیم په وجه سره کامیاب او مالدار شوې نه دی- د دنیا لس ارب پتیان خلق (مثلا هنری فورډ او هنډا وغیره) کښې څوک هم ګریجویټ نه وو- هنری فورډ (د فورډ موټر کمپنۍ مالک) او هنډا(دهنډا کار کمپنۍ مالک)خو

د کومې یونیورسټۍ شکل هم نه وو لیدلې- اکثر کروړپتیان او کامیاب خلق د اوسط درجې تعلیم او د ذهانت مالکان وو-

میاں‌شریف میټرک پاس وو- د وفات په وخت کم نه کم د دیرش میلونو او د لویو ادارو مالک وو، د هغه یو ځوې (شهباز شریف) د پاکستان د ټولو دلوې صوبې پنجاب وزیراعلی جوړشو او دویم ځوې ئې (نوازشریف) درې ځله د پاکستان وزیراعظم منتخب شو- دغه شان د چوهدری شجاعت حسین پلار چوهدری ظهور الهی معمولی تعلیم یافته او د پولیس سپاهی وو، وفاقی وزیر جوړ شو- د شهادت په وخت دځو میلونو مالک وو- عبدالستار ایدهی هم څه زیات تعلیم یافته نه دې هغه د پاکستان د ټولو نه دلوې غیر سرکاری رفاهی ادارې مشر وو- چه د هغه خپل جهاز دې او هغه شاخونه په پوره ملک کښې خواره دی- د دنیا مالدار ترین سړې بل ګیټس ګریجویټ نه دې- هغه بی- اے تعلیم لره نیمګړې پریخې وو-

زمونږ تعلیمی نظام نور معلومات خو فراهم کوی خو دَ علم دَ استعمال طریقه کار نهٔ ښائی او نهٔ دَ کامیاب ژوند دَ اصولو باره کښي خبر ورکوی دغه وجه ده چي زمونږ خپل وسائل ۱۰۰ فیصد په هغه څیزونو (ډګرو ، معلوماتو او مهارتونو وغیره ) باندے خرچ کوؤ چي دَ هغے تعلق دَ روښانه مستقبل او مالی خوشحالئ سره صرف ۱۵ فی صده دے.

# دکامیابئ اهم اصول

بهر حال د کامیابئ حاصلولو کوشش کولو نه مخکښې د کامیابئ بنیادی اصولو لره پیژندل به فائده مند وی چه د هغې په وجه سره به تاسو د ډیرو پریشانو او غلطیانو نه بچ شې او د کامیابئ سفر به مختصر او آسان شی۔ راځې رامخکښې شئ چه د کامیابئ هغه اصول خپل کړئ او د کامیابئ مراحل رالاندې کړئ:

○ **سوچ اوکړئ:**

دکامیابئ حاصلولو نه مخکښې دکامیابئ په باره کښې سوچ اوکړئ۔

○ **ذمه داری قبوله کړئ:**

د کامیابئ دپاره د حالاتو ذمه داری قبوله کړئ۔ کامیابی خودبخود نه حاصلیږی بلکه دهغې دحاصلولو دپاره څه کولې شی۔ دهغې انتظار نه دی کول پکار بلکه دې لره لټول اوتلاش کول دی۔ دخپل تقدیرتاسو په خپله مالک یئ،څوک بل ستاسو ژوند نه شی بدلولې۔

○ **دګول تعین:**

مقررکړه چه تاسو څه حاصلول یاجوړیدل غواړئ؟

○ **دکامیابئ خواهش:**

دکامیابئ دسخت خواهش نه بغیرڅه قابل ذکر کامیابی نه حاصلیږی۔

○ **مثبت رویه:**

مثبت رویه دکامیابئ بنیاد دې۔

○ **کامل یقین:**

پخپل صلاحیتونو او کامیابۍ باندې مکمل یقین کول پکار دی-

○ **د خوښې پیشه:**

هیڅ یوسړې خپل کارلره دخوښې نه بغیر نه شی حاصلولې-

○ **آئیډیا:**

دکامیابۍ دپاره تاسو ته صرف دیو آئیډیا ضرورت دې-

○ **خطرهاخستل:**

هیڅ یوه مالی کامیابی درسک اخستلو نه بغیر نه حاصلیږی-

○ **د بدلولو فیصله:**

دخپل ژوند د بدلولو فیصله کول پکاردی-

○ **منصوبه بندی:**

کامیابی خودبخود نه حاصلیږی بلکه ددې دپاره به منصوبه بندی کول وی-

○ **عمل:**

منصوبه څومره ښه ولې نه وی ترڅوپورې چه په دې باندې عمل نه وی کامیابی نه شی حاصلیدې-

○ **محنت:**

کامیاب خلق عمومًا دناکامو خلقونه زیات محنت کوی-

○ **مشکلات اومسائل:**

هیڅ یوه کامیابی هم په آسانه سره نه حاصلیږی بلکه د دې په لاره کښې ډیر رکاوټونه او مسائل راځی چه هغې لره د حل کولو نه بغیر کامیابی نه شی حاصلیدې-

○ **ناکامی:**

هیڅ یوه عظیمه کامیابي دناکامۍ نه بغیر نه حاصلیږي۔

○ **استقامت:**

استقامت د کامیابۍ کنجي ده،کامیاب خلق کوشش نه پریږدي -

○ **د پوهې(عقل ) پوره استعمال:**

د انسان د کامیابۍ او ناکامۍ ژور تعلق د هغه د عقل سره دې- هر کله چه څه ګول پوهې ته لاړشي نو هغې ته د عملي صورت ورکولو لارې لټوي۔

○ **د کامیاب سړی تلاش (لټون ):**

کچرې تاسو کامیابیدل غواړې نو څه داسې فرد تلاش کړه چه ممکنبې هغه ځاې ته رسیدلي دې چرته چه ته تلل غواړې۔ بیاڅه چه هغه کړی دی هم هغه تاسو هم اوکړئ۔ کچرې هغه کامیاب شو نو تاسو به هم ان شاء الله ضرور کامیاب شئ۔

○ **باربارکوشش:**

کامیاب خلق د نورو په نسبت زیات کوشش کوي- تاسو چه څومر زیات کارونه آزمائې د کامیابۍ امکانات هم دومره به زیاتیږي- آخر دا چه څه نه څه څیز به کامیاب شي- زما یو دوست چه ایم.ایس.سی نفسیات دې او یو ریټائرډ سرکاری افسر دې تقریبًا دلسو نه زیات مختلف کارونه ئې اوکړل- هغوی د پراپرټۍ کار اوکړو، په ناکام کیدو باندې ئې د وریژو کاروبار شروع کړو- بیائې سټاک ایکسچینج کښې قسمت اوزمائیلو، د ایکسپورټ کار ئې اوکړو دلته کامیابي ملاؤ نه شوه- بیا ئې د سټاک ایکسچینج کلینک شروع کړو، یو ځاې ناکام شو

نو بل ځای ئې د نشته کونکو مدد شروع کړو- هلته هم کامیاب نه شونو شادی هال ئې شروع کړو- دا هم اونه چلیدو نو یو ځل ئې بیا د پراپرټۍ کار شروع کړو، نو آخر دا چه کامیاب شو- اوس هغه یو خوشحاله فرد دې-

○ **هنر(Skill):**

نوټ کړئ چه کوم یو هنر(Skill) دې چه هغې لره تاسو په بهترین انداز سره اوکړئ نو هغه به ستاسوژوند لره د ټولو نه زیات متاثرکړی-ددې هنر پوره پرورش اوکړئ او د دې په بنیاد باندې کامیابی حاصله کړئ-

○ **د ناکام خلقو نه بچ شئ:**

کچرې واقعی تاسو کامیابیدل غواړې نو هغه کار مه کوئ کوم چه ناکامه خلق کوی-

○ **دعا:**

محنت داسې اوکړئ چه د کامیابۍ ټول انحصار په تاسو باندې دې- اللّٰه تعالی نه داسې دعا اوکړئ چه ټول هرڅه د کریم ربّ کول دی-کریم ربّ هغه څه کوی کوم چه تاسو نه شې کولې-

○ **ثابت قدمی**

په ژوند کښې څه هم اهمه کامیابی شپه په شپه نه حاصلیږی- د څه هم قابل ذکر منزل دپاره څه شارټ کټ نه وی- کامیابی یو سفر دې او عمومًا دا یو اوږد سفروی-

○ **سخاوت:**

کامیاب خلق د الله تعالی په لاره کښې ډیرڅه خرچ کوی- په مغرب کښې تقریبًاهرمالدارسړې د خپل آمدن لسم فیصد لازمًا د خدمت خلق دپاره خرچ کوی- تاسو چه څومره ورکوئ الله تعالی به تاسو ته کم نه کم دوه ګنا ضرور درکوی- په بعض صورتونو کښې لس ګنا پورې ورکوی- دې ته د ورکولو او اخستلو اصول وائی، په دې باندې عمل کول ډیر آسان دی- کچرې تاسو خوشحالی غواړې نو خوشحالی ورکړئ(خلقوته)- د محبت ضرورت دې نو محبت ورکړئ-کچرې مادی خوشحالی حاصلول غواړې نو د نورو مالی مدد اوکړئ- چه څه کرې هغه به ریبې-

○ **خدمت**:

تاسو په ژوند کښې هرڅیز حاصلولې شې، کچرې تاسو د نورو خلقو د هغوی د خوښې څیزونو په حاصلولو کښې مدد اوکړئ- په نورو الفاظو کښې تاسو ته به په ژوند کښې کامیابی په دې حساب سره ملاویږی په کوم حساب سره چه تاسو د خلقو خدمت اوکړئ-کوم کس چه د نورو دپاره مفید او مددګار ثابت وی هغه به هم دومره زیات کامیاب وی-

○ **اهم کار**:

د کامیابئ دپاره ضروری ده چه یو وخت کښې یو کار اوکړې شی- خپله ټوله توجه اهم کار باندې وی، هسې خو تاسو هر کار پخپله نه شې کولې- بیا ثابت قدم اوسه تردې چه هغه 100فیصدمکمل شی-

○ **پخه اراده** :

د کامیابئ پخه اراده(Total commitment)د کامیابی کنجی

(Key)ده۔

○ **دکامیاب خلقو (حالات) اولوله:**

کچرې تاسو کامیابي حاصلول غواړئ نو د کامیابۍ په باره کښې اولولئ، کچرې مالدار کیدل غواړئ، نو د دولت مند او مالدارو په باره کښې (حالات) اولوله- کچرې بهترین عالم، داعی، لیډر جوړیدل غواړې نو د هغوی په باره کښې اولوله د کامیابو خلقو قصې اولوله، د کامیاب خلقو د کامیابو او د ناکامو خلقو د ناکامونه زده اوکړه-

○ **همیشه کته:**

همیشه دګټې دپاره جنګیږه، نه د بائیللو دپاره.

○ **شائستګی او نفاست:**

سړې صرف په تعلیم او لوې جوړیدو سره نه لوې کیږی- په اصل کښې شائستګی، نفاست او سنجیدګۍ سره لوې (غټ سړې) جوړیږی- نفاست، ښه لباس، وقار، سنجیدګی او شائستګی ستاپه شخصیت کښې شماریدونکې خیز دې-

○ **په خپله شعبه کښې بهترین جوړیدل:**

د کامیابۍ کنجی داده چه ته په خپل شعبه کښې بهترین او سپشلسټ جوړ شه، ماهر جوړشه- تاسوچه کوم کار کوې په هغې کښې ستاپه شان بل څوک نه وی-دنن دور د ماهرینو او د بهتر نه د بهتر یو دور دې-کچرې ستا ترقی کول مرتبې ته رسیدل دی، خوشحال او کامیاب کیدل دی نو ستا په خپل فیلډ کښې بهترین جوړیدل دی-

# دکامیاب خلقو خوبیانې

په کامیاب خلقو کښې څو داسې خوبیانې وی چه د هغوی په کامیابۍ کښې بنیادی کردار ادا کوی، په هغې کښې څو خوبیانې دا لاندینی دی:

- **خوداعتمادی:**

هغه خلقو ته په خپل صلاحیتونو او کامیابۍ باندې پوره اعتماد وی-

- **مثبت سوچ:**

د هرڅیز دوه رخه وی- مثبت او منفی،کامیاب خلق همیشه مثبت سوچ کوی-

- **خود شناسی(Selfconcept ):**

زمونږ کارکردګی زمونږ د خود شناسۍ نه ګیر چاپیره ګرځی اعلیٰ خود شناسی وی نو کارکردګی به هم اعلیٰ وی-

- **د نفس ضبط:**

کامیاب خلقو ته په خپل ځان باندې پوره کنټرول وی، هغوی د نهٔ غوښتولو باوجود هغه کار کوی کوم چه د هغوی د کامیابۍ دپاره ضروری وی-

- **ښه عادتونه:**

کامیابی په اصل کښې زمونږ د عادتونو سبب وی-کامیاب خلق ښه

عادتونه خپلوی چه د هغې په وجه سره هغه نسبتًا په آسانئ سره کامیابیدې شی-

### ○ دمعاوضې نه زیات کار:

کامیاب خلق همیشه د معاوضې، توقع او ضرورت نه زیات کار کوی- نه صرف زیات بلکه بهتر او په خوشحاله زړۀ سره ئې کوی- دغه شان هغه د خپل ځان او د خپل کار په قدر و قیمت(Valve) کښې اضافه کوی- په دنیا کښې هغه خلق نه ترقی کوی او نه کامیابیدې شی-چه د معاوضې مطابق کار نه کوی یا د هغې نه کم کار کوی-

### ○ د فیلډ ماهر:

څوک فرد هم هغه وخته پورې کامیابیدې نه شی ترڅو پورې چه هغه په خپل فیلډ کښې کامیاب ماهر نه وی- کامیاب خلق په خپل فیلډ کښې بهترین وی-

### ○ دوخت بهترین استعمال:

کامیاب خلق د خپل وخت بهترین استعمال کوی- دا خلق وخت نه ضائع کوی، خپل کار نه روستوکوی-

### ○ د نوورسره تعاون:

هیڅ یو فرد هم ځانله عظیمه کامیابی نه شی حاصلولې. د لوې کامیابئ دپاره مونږله د نورو نه د تعاون اخستلو ضرورت پیښیږی-

### ○ خوشګوار تعلقات:

کامیاب خلق د نورخلقو سره خوشګوار تعلقات ښه ساتی-

### ○ د فیصلې قوت:

کامیاب خلق فیصله زر کوی خو بدلیږی روستو-

○ **دمسائلو حل:**

کامیاب خلق د مسائلو حل کولو بهترصلاحیت لری-

○ **سوال کول:**

مورهم د مناوهلو نه بغیر بچی ته پۍ نه ورکوی-کامیاب خلق د عام خلقو نه مخالف چه کوم څیز باندې نه پوهیږی نو په سوال کولو کښې یره محسوسوی-

○ **بهترین انداز سره کار:**

کامیاب خلق د عام خلقو نه څه مختلف کار نه کوی بلکه هم هغه کار په مختلف انداز سره کوی- یعنی دا خلق غیر معمولی کار نه کوی بلکه عام څیزونو لره غیر معمولی، منفرد او په بهترین انداز سره کوی او پیش کوی-

○ **محنت اومسلسل کوشش:**

کامیاب خلق هر هغه کار کوی چه د کامیابۍ دپاره ضروری وی، په محنت او مسلسل کوشش باندې یقین ساتۍ هر کله چه ناکام خلق د خپل آرام ګاهو نه (Comfort zone) نه بهر راتلو ته تیار نه وی هغه د محنت مشقت نه یریږی-

# ښه عادتونه

زمونږ کردار په بنیادی طور باندې زمونږ د عادتونو نه مرکب وی۔ یو کهاوت دې چه : یو سوچ اوکړم او یو عمل کټ کړم، او یو عمل اوکړم او یو عادت کټ کړم او یو عادت اوکړم او کردار کټ کړم، کردار اوکړم او قسمت کټ کړم۔

د کامیاب کیدو دپاره تاته د یو خاص قسم انسان جوړیدل وی. انسان په اصل کښې د عادتونو مجموعه ده، د کامیابۍ دپاره به تاته څه عادتونه پریخودل وی او څه ښه عادتونه به خپلول وی۔ کامیابی په اصل کښې د ښو عادتونو نتیجه وی۔ هر کله چه ناکامی د غلط عادتونو نتیجه ده "عادت یاخو بهترین خدمتګار وی یا بدترین آقا"۔

دجدید نفسیاتو د ریسرچ په رنړا کښې چه څه هم کوې په هغې(۹۵) فیصد انحصار ستاسو په عادتونو باندې دې۔

کامیاب خلق ښه عادتونه لری او ناکام خلق د بد عادتونو ښکار وی۔ ښه عادتونه خپلول مشکل دی خو ښه عادتونو سره ژوند تیرول ډیر آسان دې۔ د دې مخالف بد عادتونه خپلول آسان دی خو د دې سره ژوند تیرول ډیر مشکل دې۔

په حقیقت کښې تاسو چه څه هم کوئ، هغه به د څه عادت نتیجه وی. د خبرې کولو، ګاډی چلولو او سوچ کولو وغیره طریقه اکثر عادتًا وی. د ژوند په ټولو شعبو کښې زمونږ د کردار بنیاد زمونږ ټول تجربات دی چه د ماشوالی نه شروع کیږی-زمونږ تقریبًا ۹۵ فیصده

حرکات او کردار غیر شعوری وی- ته چه څنګه انسان جوړیدل غواړې په هغې باندي ستا عادتونه دی-

خو که ته ډیر کامیابیدل غواړې نو تاته به خپل بعضې عادتونه پریخودل وی، مثلاً ناوخته پاسیدل، د محنت نه یریدل، په کار کښې لم لیټ کول، زر فیصله نه کول، غیرمستقل مزاج کیدل او زیات ټی وی او فیس بک کتل او زیات موبائیل استعمالول وغیره- د کامیابۍ دپاره تاسو ته د دې عادتونو په ځاې ښه عادتونه خپلول وی- زمونږ په خیال کامیاب خلق لاندینی ښه عادتونه لری- کچرې ته کامیاب کیدل غواړې نو تاسو ته به هم دا عادتونه خپلول وی-

## د عادتونو جوړول او پریخودل:

زمونږ د ژوند حالات، زمونږ کامیابی او ناکامی زمونږ د عادتونو نتیجه وی- دا زمونږ انتهائی خوش قسمتی ده چه عادتونه جوړول یا ختمول زمونږ په اختیار کښې دی- په ټولو عادتونو کښې د ټولو نه اهم عادت د سوچ کولو عادت دې-کله چه انسان د سوچ کولو په عادت باندې قابو او مومی نو ګویا چه "د نفس په تربیت" کښې ئې ډیر منزلونه اووهل. هر کله چه یو کس څه څیز لره باربار سوچ کوی یا څه کار لره باربار کوی نو په هغه کښې هغه عادتونه پیدا کیږی- څه مودې پورې دا شان کار کولو نتیجه دا راوځی چه د دې د سوچ کولو او د څه څیز د کولو عادت د هغه پوهې ته ځی چه د هغې په وجه سره هغه کار خودکاره (Automatical) جوړشی-

ښه خبره داده چه ټول عادتونه زده کړې شی، لهذا دې لره ختم کولې هم شی-د دې قانون مطابق چه کله یو سوچ یاعمل لره څو ځله اوکړې شی نو هغه عادت جوړشی- دارنګه تاسو څه عادت هم زده کولې شې، عمومًا د یو نوې عادت په خپلولو کښې ۲۱ نه۴۰ ورځو پورې لګی-

انسان په بنیادی طور باندې د عادتونو مجموعه ده، ښه یابد- ښه عادتونه د کامیابۍ ضمانت دې او بد عادتونه د ناکامۍ سبب جوړیږی. د کامیابۍ دپاره ضروری ده چه تاسو د خراب او ناکامۍ سبب جوړولو والا عادتونه پریږدې او د کامیابۍ ښه عادتونه خپل کړئ- د دې دپاره ضروری ده چه د ټولو نه مخکښې تاسو د بد او خراب عادتونو شناخت اوکړئ چه ستا د ترقۍ په لاره کښې رکاوټ دې، او کوم لره چه تاسو ختمول غواړې- بیا د دې مثبت اوښه عادتونو لسټ جوړکړئ چه ستاپه کامیابۍ کښې به معاون وی-

## ایمانداری:

مشهور ریسرچ سکالر ډاکټر تهامس سټنلے د کامیابۍ وجوهاتو کښې ایماندارۍ لره د فهرست سرګرځولې دې-یعنی کامیابی خصوصًا د مالی کامیابۍ د ټولو نه لویه وجه ایمانداری ده-

د ایماندارۍ مطلب دا دې چه تاسو کله هم د خپلې حصې نه زیات مه اخلئ اوپه څه قسمه هم دې څیزلره قبول مه کړئ په کوم چه تا محنت نه دې کړې- بد دیانتی کله هم نه پټیږی، نن نه نو صبا به اونیولې شې- د بد دیانتۍ بنیاد دروغ دی-

مومن کله هم دروغژن نه شی کیدې- دا نه صرف کبیره ګناه ده بلکه د دې نورهم نقصانات دی- په دې سره د فرد ټوله ایمانداری مشکوک کیږی- کچرې یو کس ته د ژوند په یوه شعبه کښې دورغ وئیل راپیښ شی نو په نورو شعبو کښې هم به وئیل پیښیږی- دروغ کله هم نه پیټیږی، اوکله چه یوځل اونیولې شی نو بیا ددې کس هرڅیز مشکوک کیږی- د دې دویم لوې نقصان دا دې چه د یو دروغ پټولو دپاره نور ډیر دروغ وئیل راپیښیږی-

## عاجزی یا عاجز مزاجی:

په ژوند کښې د کامیاب کیدو دپاره یو بنیادی خوبی عاجز مزاجی ده- د دې نه مراد دا دې چه تاته علم وی چه ته څه څه نه شې کولې خود دې د ښکاره کولو ضرورت نشته- دا په دې وجه ضروری دی چه کچرې تاته علم وی چه ته څه څه کولې شې نو ته به مغروره شې-او خلقو لره به د خپل ځان نه کمزورې اوګڼې- مغروره سړې الله تعالی ته سخت ناخوښه دې-

عاجزی، د غرور، فخر او تکبر ضد دې- عاجزی د فرد دپاره د ترقۍ او کامیابۍ دروازې پرانزی-

## صبر:

صبر کول هم د کامیاب خلقو یو اهمه خوبی ده-کله چه مونږ صبر کوؤنو څیزونه په تیزۍ سره زمونږ طرفته راځی- د صبر کولو سره مراد دانه دې چه تاسو سترګې بندې کړې، لاس په لاس کښې ورکړه او د اُمیدونو نه ډک انتظار کوه- انتظار بامقصده وی، دا معلومات په رایو ځاې

کولو او مناسب منصوبه بندۍ باندې مشتمل وی- کچرې تاسو صبر اونکړۍ او د بې صبرۍ مظاهره کوې نو تاسو به ناکامۍ سره مخ شۍ-

غرور، حرص او لالچ د بې صبرۍ د ټولو نه لویه وجه ده- هر سړې زر کامیاب کیدل غواړی هر کله چه کامیابۍ صبر غواړی- د بې صبرۍ وجه سره اکثر غلطیانې کیږی-

## شکرګزاری:

افلاطون یو ځل وئیلې ووچه "چه کله تاسو شکرګزاری محسوسوې نو ته لوې سړې جوړیدې شې او آخر دا چه لوې څیز به حاصلوې- یو بل مفکر وئیلې دی چه شکر ګزاری د ښه والی مور ده- شکر ګزاری نه صرف د ښه والی بلکه د ټولو فائدو مور ده- کامیاب او خوشحال خلق د دې حقیقت نه ښه واقف دی- په دې وجه تقریبًا ټول کامیاب خلق نه صرف د عام خلقو شکریه اداکوی بلکه الله تعالی چه کوم نعمتونه ورکړې وی د هغې دپاره هغه ډیر شکرګزار وی- د کائنات یو اهم اصول قانون کشش دې- د دې قانون لاندې د کومو څیزونو دپاره چه ته د خپل رب شکر ګزار ئې نو تاته به مزید نورښه څیزونه ملاویږی- دا یو آفاقی قانون دې چه کله هم غلط نه ثابتیږی- ناشکر که جوړشوې نو د قانونِ فطرت لاندې به څه هم حاصل نه کړې-

## بهادرجوړشۍ:

کامیابۍ او خطره اخستل لازم ملزوم دی- څه اهم او لویه کامیابۍ د رسک اخستلو نه بغیر نه حاصلیږی- کچرې تاسو عظیمه کامیابۍ حاصلول غواړې نو تاته به بهادر جوړیدل وی-د یرې نه بغیر څوک سړې

بهادر نه شي جوړیدې- بهادري به هغه وخت وي کله چه تاته څه یره وي خو د دې باوجود هم ته عملي اقدام کوه-

بهادر جوړه شه مګر بې وقوف مه جوړیږه- په بې وقوفۍ او بهادرۍ کښې دا فرق دې چه په بهادرې کښې هم مونږ د حالاتو په ښه شان سره جائزه اخلو ټول معلومات رایوځاې کوؤ، او بیا یرې باوجود عملي اقدام اوچتوؤ- په حماقت کښې مونږ د حالاتو جائزه نه اخلو، تیاری نه کوؤ بلکه عملي قدم اوچتوؤ- دویم فرق دادې چه بې وقوف ته د خطرې علم نه وي هر کله چه بهادر ته د خطرې پوره علم وي بیا هم هغه د څه کولو فیصله کوي-

## قدرشناس جوړشئ:

د لوې کامیابۍ دپاره ضروري ده چه په تاسو کښې قائدانه صلاحیتونه موجود وي- یو کامیاب لیډر په کھلاؤ زړه سره د نورو تعریف کوي- تعریف خوښول انساني فطرت دې- په مونږ کښې اکثر د نورو تعریف کولو کښې د کنجوسۍ نه کار اخلي- مونږ عمومًا د نورو خلقو تعریف په دې وجه نه کوؤ ځکه چه مونږ پوهیږو چه شائد چه بل کس دا اوګڼړي چه زمونږ د دۀ نه څه مطلب دې(ځکه زما تعریف کوي)- د هغه نه څیز اخستل دي یا بیا په دې وجه تعریف نه کوؤ چه مونږ ته پته نه وي چه دوړو وړو څیزونو تعریف څنګه کولې شي- د دې نه علاوه زمونږ عمومي تربیت دارنګ کولې شي چه مونږ د نورو د خوبیانو په ځاې د هغه په خامیانو باندې نظر وي-

**اول په نورو پوهه شه بیا نورو لره پوهه کړه:**

د کامیابۍ دپاره ضروري ده چه اول ته د نور خلقو (حالاتو) باندې په ښه طریقې سره ځان پوهه کړه- یعنی په توجه سره د هغه نقطه نظر لره واوره او ځان پرې پوهه کړه- چه دویم کس ته احساس وی چه د هغه نقطه نظر باندې پوهه شو- د هغه د ضرورت احساس پیداکړې شوې وی نو بیا هر سړې به ستاسو خبره په احساس او ذمه دارې سره اوری، ګنی هغه ته به دا احساس وی چه ته صرف په خپل خبره اورلو او په بل باندې منلو کښې دلچسپی لرې او د نورو نقطه نظر سره دې قطعًا څه دلچسپی نشته- په انسان معاملاتو کښې دا یو انتهائی اهم خبره ده- د دې نه بغیر په تعلقاتو کښې ژوروالې او پائیداری نه راځی-

تاسو هغه خلقو باندې څنګه اعتماد کولې شې چه ستاسو مسئله اوریدلو نه بغیر د هغې حل خودل شروع کړی- اول په خبره باندې د پوهیدلو کوشش اوکړئ بیا پرې خپله خبره اومنې- د انسانی زړه اهم ترین ضرورت دا وی چه څوک د هغه خبره په توجه سره واوری هر کله چه عمومًا د نورو خبرو لره په بې توجهې سره اوریدلې شی یا صرف د اوریدلو اداکاری کوی یا بیا مخصوص خبره اوری-

په اکثر وختونو کښې مونږ صرف الفاظ اورو، مینځ ته درسیدلو کوشش نه کوو یا صرف په ذاتی نقطه نظر سره ئې اورو- حالانکه د نورو خبرو لره دې نه صرف په توجه سره واوریدلې شی بلکه د هغه په نقطه نظر سره واوریدلې شی- په مونږ کښې اکثر د نورو د خبرو اوریدو په ځاې یا خو خبره شروع کوو یا بیا د خبرو تیاری کوو- د خپلې خبرې اورلو په ځاې د نورو واوره- اګر چه دا یو مشکل کار دې مګر ډیر فائده مند دې-

## د زده کړې او خودلو عمل او مسلسل کوشش:

د زده کړې خودلو عمل نه ختمیږی او نه دې ختمول پکار دی- همدا زمونږ د دین تعلیم هم دې چه دځانګو نه تر لحده پورې تعلیم حاصل کړې شی- هسې هم د حکمت ودانائې خبرې د مومن ورک شوې میراث دې، چرته هم ملاؤ شی سمدست اخستل پکار دی-

په دنیا کښې دوه قسمونه تکلیفونه وی یو د زده کړې او خودلو، دویم د جهالت او تکلیف او د بنپمانتیا تکلیف- چه کوم سړې د اول قسم تکلیف برداشت کوی هغه ته د دویم قسم نه تکلیف نه خلاصې ملاویږی- هر کامیاب سړی سره یو تکلیف ورکونکې کهانی(قصې) وی او د هر تکلیف ورکونکی کهانۍ انجام کامیابی ده- په دې وجه تکلیف لره برداشت کولو عادت هم د کامیابۍ اوله پوړۍ ده- په خپل دماغو سره دا غلط فهمی راویستل پکار دی چه زه څه هم نه شم کولې- پوخ عزم او پوخ یقین سره مسلسل کوشش او متواتر عمل اوکړۍ نو کامیاب به شۍ.

بس یوه خبره دا پکار ده چه د بهترنه بهترین د تلاش سفر نه دی اودرول پکار۔ کله چه د تلاش او لټولو سفر نۀ وی نو ترقی معکوس کیږی. کله چه د زده کړې عمل اودرولې شی نو ترقی هم اودریږی-

کامیابی او ترقی په دې کښې ده چه د تلاش سفر جاری ساتۍ. د کامیابۍ دپاره مسلسل کوشش او استقامت پکار دې- حدیث پاک کښې راځی :

﴿اِسْتَقِيْمُوْا تُفْلِحُوْا﴾ (سند احمد:۵ /۲۸۰)

"یعنی په استقامت سره کامیابی ملاویږی".

علم او فن د چا جاګیر نه دې۔ علم طلبګار والو ته ملاویږی، پیسې والا ته نه۔کچرې په تاسو کښې که حقیقی طلب او تنده شته نو د دنیا هیڅ یو طاقت تا لره د علم د حاصلیدو نه شی منع کولې۔ په محدود وسائلو کښې هم تاسو تعلیم و علم حاصلولې شې۔ د وسائلو د کمې او د عدم دستیابۍ بهانه دروغ ده۔

## د حالاتو سره مثبت تبدیلی:

علم په انسان کښې نور پیدا کوی او دا رنړا په انسان کښې مثبت تبدیلی راولی- یو عالم، تعلیم یافته او جاهل اوبې تعلیم کښې همدا فرق دې-کوم علم او تعلیم چه ستا ژوند بدل نه کړی نو هغه جهل دې-

په دنیاکښې دوه قسمه خلق اوسیږی-

① ځوک چه کله نه بدلیږی هغه کله ترقی نه شی کولې-

② هغه خلق چه د وخت، زمانې، حالاتو او عمر سره سره خپل ځان کښې مثبت تبدیلی راولی، خپل ځان لره، خپل انداز لره، خپلې رویۍ لره، خپل لباس، خپل حرکات وسکنات، د ناستې پاستې او خپل کردار او ګفتار لره آپ ډیټ کوی، داسې خلق ترقی کوی-

بیا یو عالم یا طالب العلم د معاشرې صرف یو کامیاب فرد نه بلکه هغه یو پوره قوم او پوره نسل دې-

د خپلو علاقو، خپل قومونو، خاندانانو، د خپل متعلقینو کردار سازی او اصلاح د هغوی په وجه سره ده- یو سړې په خپلو اخلاقو، کردار، تمیز، رویۍ او سنجیدګۍ سره لیډر جوړیږی- سیدعمرؓ فرمائی:

﴿تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَتَعَلَّمُوْا لِلْعِلْمِ السَّكِيْنَةَ وَالْوَقَارَ﴾

"علم زده کړي او علم دپاره وقار او سنجیدګی هم زده دکړئ"۔

سیدنا علیؓ فرمائی: "سردار جوړیدو دپاره زیات علم حاصل کړې۔ کچرې سردار جوړیدل غواړې نو سخی جوړشه ۔علم او سخاوت والاسردار جوړیږی"۔

## د نورو سره همدردی او د تعاون نیت:

د کامیابئ دپاره نیت اوکړئ چه الله تعالی کوم کرم کړې دې په دې کښې به نورو لره شریک کوم، مال ئې درکړې دې، علم ئې درکړې دې، صلاحیت ئې درکړې دې، په دې کښې به نورو لره شریک کوم، د مخلوق خدمت به کوم، بیا ګوره چه الله تعالی لارې څنګه جوړوی۔ یو بزرګ خپل شاګرد او مرید ته اووئیل چه کچرې ته خپل رزق زیاتول غواړې نو یو کار ضروری اوکړه چه رزق اوینځه او اوخوره۔ هغه مرید اووئیل چه مونږ خو داسې کوو مثلاً سبزی، فروټ وغیره وینځو او خورو۔ بزرګ اوفرمائیل: رزق وینځل خو هله دی کله چه ته بل څوک لره په دې شریک کړې، نورو ته خیرات کوه۔ ځکه چه د تقسیم کونکی رزق پاک کیږی. صرف د جمع کونکی رزق نه پاکیږی۔

نن زمونږ المیه دا ده چه هر بنده د خپل ځان دپاره ژوندې اوسی۔ د خپل ځان دپاره خو هرڅوک ژوند تیروی کمال خو دا دې چه انسان د نورو دپاره ژوندون زده کړی۔ همدا نبوی صفت دې:

﴿اَنَا قَاسِمٌ وَاللهُ يُعْطِىْ﴾ "الله ورکونکې او زه تقسیم کونکې یم"۔

د نورو دپاره وخت اوباسئ، د نورو دپاره کار کوئ، د نورو دپاره هم ژوند تیروئ نو بیا به ستاسو په ژوند کښې هم انقلاب راځی- صرف د خپل ځان دپاره ژوند تیرولو والا کله هم ترقی نه شی کولې ځکه چه هغه خود عرضه وی- خود عرضی به پریخودل غواړی-

د کامیابۍ دپاره اوله پوړۍ ده، خپل رزق، مال، علم، خدمتونو لره تقسیمونکې او د خیر کارکونکې په ژوند کښې زیات کامیاب وی- دا آفاقی اصول دې چه نورو ته لاره ورکونکی دپاره نورې لارې کهلاوهی او دا هم تجربه ده چه کامیاب خلق د نور خلقو خیال ساتی-

## د بزرګانو نه دعا اخستل:

د کامیاب خلقو سره د خپلو بزرګانو (مشرانو) استاذانو او والدینو دعاګانې وی۔ دکهوټه سکې د چلیدو وجه د استاذانو او بزرګانو دعاګانې دی۔د والدینو او استاذانو په دعاګانو کښې الله تعالی دومره طاقت ایخودلې دې چه کهوټه سکّو لره کهرا کوی لهذا د هغوی نه دعا اخستل پکار دی۔ او ورسره د هغوی ادب او حترام او داسې خدمت کول پکار دی، داسې کار کول پکار دی چه والدین، استاذان او بزرګان په خپله درته دعا اوکړی۔

د کامیابۍ راز دوه خبرې دی۔ یو د استاذانو خدمت او دویمه دعا۔ مؤدب کیدل کمال دې، داسې ډیر لائق ژاړی ګرځی چه په هغوی کښې ادب نه وی او د بزرګانو دعا ورسره نه وی۔

## خود اعتمادی او کامل یقین:

په ژوندکښې دکامیاب کیدو دپاره ذهین کیدل دومره ضروری نه دی څومره چه خود اعتمادی او یقین ضروری دې-

خود اعتمادی داده چه انسان دا ذهن جوړکړی چه زه څه کوم- Self Confidence(خود اعتمادی) انسان لره مخکښې نه مخکښې بوځی او د کامیابۍ مرتبې ته ئې رسوی- په اعتماد سره د محنت کونکی محنت به نه ضائع کیږی بلکه ضرور به ورته څه نه څه ملاویږی- وئیلې شی چه شل هغه نه دې چه د هغه لاس خپې نه وی بلکه شل هغه دې چه د هغه خپې لاسونه وی خو هغه څه کولې نه شی، دلاسونو خپو سره هم خلق ناکام او نامرادکیږی-

غرض دا چه چه کوم سړې پر اعتماد وی (یعنی په ځان ئې پوره اعتماد وی) پوره ارادې او همت والا او مستقل مزاجۍ سره په محاذ باندې کلک ولاړ وی نو هغه کامیابیږی،ځکه چه د محنت کونکی دپاره پوره دنیا مسخره پرته ده او کوم چه کام چورا و ناراسته وی د هغه دپاره پوره دنیا بنده ده-

خود اعتمادی او اولوالعزمی ډیر ضروری وصف دې- انسان کچرې خود اعتمادوی، اراده ئې پخه وی، یقین ئې کامل وی نو د مشکل نه مشکل غابښی نه هم پوریوځی- تجربه ده چه په لوستلو کښې دومره لائق نه وی خو په هغه کښې اعتماد زیات وو، هغه کامیاب شو کوم چه لوستلو لیکلو والا وو خو کام چور وو یا بې اعتماده وو نو هغه هغه وخت خاورې چنړوی او څوک پرې هم نه پوهیږی- وژنری او کامیاب خلق همیشه پوخ یقین ساتلو والا وی، خپلو وړو ته ورکونکې،کمزورو لره په خپل خپو باندې اودریدونکې وی-

خو افسوس چه نن موټیویټ کونکي، لاره خودونکي څوک نیشته دي، البته حوصله ورله غورزونکی ډیر دی۔

مشهورسائنسدان"تهامس ایډیسن" چه که ماشوم وو کمزوري ذهن والا وو، یوه ورځ د سکول نه راغي نو استاذ ورله یو سربمهر(بند) خط ورکړي وو چه دا مور له ورکړه۔ مور ئې چه کهلاؤ کړو نو استاذ لیکلي وو چه ستاسو ځوي انتهائی غبي او بیکاره دي۔ مونږ ده لره نور په سکول کښې نه ساتو. د مور په سترګو کښې اوښکي راغلي۔ بیا هغې خپل ځوی ته د حوصلې ورکولو دپاره په اوچت آواز اووئیل:"چه ستا ځوي یو جیئس دي، یو قیمتی هیره ده۔ دې د دې سکول دپاره ډیر وړوکې دې، دلته استاذ هم ښه نشته لهذا ده ته تاسو په خپل اولولې یا څه ښه سکول ته ئې اولیږې"۔تهامس خپل ډائرۍ کښې لیکلي دی چه تهامس ایډیسن په اصل کښې یو ذهنی ناکاره ماشوم وو خو یوې عظیمې مور هغه لره د صدۍ یو لوې سائنسدان جوړ کړو۔ بیا دې سائنسدان بلب هم ایجاد کړو۔ د 900 نه زیاتو تجربو کښې ناکامه شو،وائی چه هرې ناکامۍ او شکست خوړلو ماته نوې حوصله راکړه تر دې پورې چه کامیاب شوم۔ د هغه په همت، محنت او کوشش سره نن دنیا روښانه ده۔ په اصل کښې دا مور په اعتماد ورکولو سره اوشو.

اعتماد(Confidence) په څلورڅیزونو سره زیاتیږی:

① علم، په نالج زیاتیدو سره په خپل سبجکټ کښې، د دنیا په باره کښې۔

② ریښتونی او ښه انسان جوړیدو سره،په دې سره اعتماد زیاتیږی او په غل او دروغژن سړی کښې یره وی۔

③ خپل ځان باندې پوهيدلو سره۔
④ په الله تعالیٰ باندې توکل او اعتمادسره۔

کامیابي او ناکامي په یقین سره شروع کیږي۔ کامل یقین د کامیابۍ کنجي ده۔ د څه څیز حاصلولو نه مخکښې ضروري ده چه تاته یقین وي چه ته هغې لره حاصلولې شې۔ باربار دتجرباتو نه ثابت شوې ده چه اول انعام "ذهین"ته نه بلکه "یقین" ته ملاویږي۔ لهذا یقین اوکړه چه د الله تعالیٰ په مدد سره تاسو هر کار کولې شې هرڅیز حاصلولې شې۔ په هر ښه کار کښې د الله تعالیٰ مدد شامل وي۔ تاسو چه څه هم کوئ کچرې تاسو ته په دې کښې د کامیابۍ مکمل یقین نه وي، معمولي غوندې هم شک دې نو هغه کار هیڅ کله هم اونکړې، تاسو به یقینًا ناکامه شې۔

## د یقین حاصلولو طریقې:

ډیر خلق خپل مقصدونه صرف په دې وجه نه شي حاصلولې ځکه هغوی ته کامل یقین نه وي۔ په ریسرچ سره دا خبره باربار ثابت شوې ده چه د ناکامۍ یو اهمه وجه داده چه سړی ته په خپله کامیابۍ باندې شک وي یعنې په خپلو کامیابو او صلاحیتونو باندې ورته کامل یقین نه وي۔

د ګول مقررولو نه پس دا یقین اوکړه چه تاسو خپل ګول لره حاصلولې شئ ځکه چه کامیابي په کامل یقین سره حاصلیږي۔

د کامل یقین د حاصلولو دپاره لاندینې طریقې استعمالولې شي:

○ کوم څیز لره چه باربار کولې شي نو سړی ته په هغې باندې یقین راځي۔ کچرې دروغو لره هم باربار اووئیلې شي نو خلق په هغې هم یقین کوي۔

○ هټلر په جرمنی کښې دې طریقې لره په ډیرې کامیابۍ سره استعمال کړو. لهٰذا د کامل یقین د حصول دپاره خپل ګول لره په ورځ کښې کم نه کم درې ځله سحر،غرمه، ماښام په اوچت آواز سره په پرجوش لهجه کښې درې ځلور ځله لوله- دا مشق کم نه کم سحر ماښام ضرور اوکړئ- یو میاشت کښې دننه دننه به تاسو ته کامل یقین حاصل شی-

○ هر وخت ځان ته وایه چه ته خپل مقصد او ګول لره حاصلولې شې- تاته به کامل یقین حاصل شی-

○ خپل لیکلې شوې ګولونو لره همیشه ځان سره ساته، په پرس کښې ساته- دغه رنګه چه ته کله پرس کهولا وهې نو ستا نظر به په خپل ګولونو باندې پریوځی- ګولز هر وخت په خپل ذهن کښې ساته، تاسو ته به د کامیابۍ یقین راشی-

## منظم ژوند:

په موجوده دور کښې تنظیم سازۍ د یو فن حیثیت اختیار کړې دې- منظم کیدل هم باقاعده فن دې دارنګه خپل ځان، خپل وخت، خپله فیملی،خپله کورنۍ، خپل خاندان، خپلې قیبلې لره، خپلې محلې لره، خپل ښار لره، خپلې ضلعې لره، خپلې کمپنۍ لره، خپلې ادارې لره، خپل آرګنائزیشن لره، او خپل تنظیم او جماعت لره منتظم کول آسان هم دی او مشکل هم دی۔ کچرې څوک خپل ځان لره منظم کیدل یا کول غواړی نو په ډیر سهولت سره منظم کیدې شی او کولې شی۔او کچرې خپل ځان لره یا نورو لره منظم نه کول غواړی نو د دنیا هیڅ یو طاقت هم، څه استاذ هم، څه کتاب، هیڅ یو ادارې لره منظم نه شی کولې-

د یو نظم و ضبط تکلیف برداشت کول دی او بل د پښېمانتیا تکلیف دې چه کاش د تعلیم په دوران کښې مې محنت کړې وې،کاش چه ما وخت نه ضائع کولو، دا د پښېمانتیا تکلیف ډیرتکلیف ورکونکې دې۔ د دې په نسبت د نظم وضبط تکلیف دا دې چه اُف زه په سحر وختی به ځنګه پاسم، زه به فلانې کار ځنګه اوکړم، زه به د تعلیم دپاره ذلت او تکلیف ځنګه اوچت کړم، دویم ځاې ته لاړشم عزت به ځنګه حاصل کړم، د وخت پابندی به ځنګه کوم، دا د نظم وضبط تکلیف به ځنګه برداشت کړم نو چه بیا د آئنده د پښېمانتیا او ذلت نه بچ شم ۔کوم خلق چه وژنری وی د هغوی نظم وضبط کښې مثالی وی، د هغوی په کارونو کښې بې ترتیبی او انتشار نه وی۔د هغوی منټ منټ بلکه ساعت ساعت مربوط او منظم وی۔د هغوی د روزمره معمولاتو په یو ترتیب، نفاست، سلیقه، سخت اصول، د سپلن په نظر راځی۔ په خوب باندې کنټرول، د ورزش پابندوی، د هغوی بدنی او دماغی صحت بهتروی۔
غرض دا چه د نظم وضبط دپاره مختلف موقعو کښې تنظیم ضروری دې۔

**خپل ځان منظم کول:**

د کامیاب او ښه جوړېدو دپاره د ټولو نه اول کار دا دې چه انسان خپل ځان، خپل ذات، خپل شخصیت لره منظم کړی، د خپل ځلیرویشت ګهنټو روټین په کاغذ باندې لیکلو سره د خپل وختونو او کارونو ټائم ټیبل جوړ کړئ۔

دویم دا چه خپل کورنې ژوند منظم کړئ، دریم دا چه دفتری یا تعلیمی ژوند منظم کړئ، څلورم خپل حلقه واحباب لره منظم کړئ،

پنځم داچه خپل ماتحت کارونو لره د منظم کولو کوشش کوئ، کچرې استاذ دې نو د خپل شاګردانو،که د کور مشر دې نو د خپل کور والو، کچرې د ادارې مشرې نو خپل اداره کښې د کارکونکو او نوکرانو لره منظم کولو کوشش اوکړئ-

## خپل کارونو لره منظم کول:

د کامیابئ دپاره بل کار د نورو کارونو دپاره منظم کول- د کارونو منظم کولو اوله طریقه دا ده چه هغه اولیکئ- په قرآن پاک کښې هم حکم دې چه کله ته د چا سره معامله کوې نو هغه اولیکه- [بقره:۲۸۲] لیکلې شوې خبره سړی ته یاد پاتې کیږی-

انسانی دماغ په دوه حصو کښې کار کوی- یو په شعوری طور باندې او بل په لاشعوری طور باندې- شعوری طور باندې د انسان دماغ لس فیصده کار کوی هر کله چه په لاشعوری طور باندې لس کم سل فی صده کارکوی.

## ډائری لیکل:

حاصل دا چه ته څه کار هم کول غواړې هغې لره په خپله ډائرې کښې لیکل پکار دی چه دا زما نظام الاوقات دې- هر کله چه ته د خپل کارونو ډائری جوړه کړئ او په هغې کښې کارونه لیکې نو کله چه هم ته ډائری لولې نو په سترګو سره به ئې وینی او لولې به او دماغ به تاته پیغام درکوی چه تاسو ته فلانې فلانې کار کول دی-

ډائری په دوه قسم وی- یو وړه غوندې جیبی سائز والا، چه هغې ته (GK Book)وائی چه همیشه دپاره ستاسو په جیب کښې ایخودل پکاردی. په دې کښې په عارضی طور باندې یاداشتونه، معلومات، کار،

وعدې، موبائیل نمبر، نوم، پتې، ذمه دارۍ، یاددهانۍ، کورنې، ذاتي او دفتري ضروري کارونه وغیره لیکلې شي۔

کومې خبرې لره وړه او سپکه ګڼړلو سره مه نظر انداز کوئ۔ دا شان بڅپل ذهن او حافظې باندې اعتماد مه کوئ چه ماته به دا خبره یاد پاتې شي۔ دا وړه ډائرۍ د کارونو محافظ ډائرۍ ده۔

دویمه لوې ډائرې ته (DS Book)وائی چه په دفتر یا کور کښې پراته وی۔ چه په هغې کښې د وړې ډائرې نه ضروری معلومات او تفصیلات دلته منتقل کول وی او ورسره په دې لویه ډائرې کښې پنځه قسمه کار، خبرې او منصوبې لیکلې شي۔

د لوې ډائرۍ پنځه حصې کیدل پکار دی۔ یوه حصه کښې روزانه د کولو کارونه، دویمه کښې هفته وار کارونه، دریمه کښې ماهانه د کولو کارونه، څلورمه کښې سالانه د کولو کارونه، او پنځمه حصه کښې د پوره ژوند د کولو کارونه۔ هر کله چه دا لیکلې شوې مخې ته وی نو بیا انسان د هغې دپاره کوشش هم کوی او بیا هغه کارونه کیږی هم۔

**د وخت قدر:**

وخت د انسان په ژوند کښې د ټولو نه قیمتي سرمایه ده چاچه د وخت قدر اوکړو، هغې لره ئې په صحیح طریقې سره منظم کړو، هغې لره ئې په صحیح طور باندې استعمال کړو هغه به کامیاب وی او کوم کس چه د وخت ناقدرۍ کولو سره هغې لره ضائع کړو نو وخت به هم هغه لره ضائع کړی۔

وخت لره د قیمتي جوړولو په سلسله کښې اکثر خلق د غفلت ښکار دی- چاچه د وخت قدر اوکړو، هغوی په دنیا کښې عظیم الشان کارسر ته رسولي دي- امام محمدؒ یو کم زر کتابونه لیکلي دی او د قرآن وسنت نه ئې لس لاکهه اویازره مسائل مستنبط کړي دی- علامه ابن جوزیؒ څه داسې فن نه دي پریخودلي چه په هغې باندې ئې څه کتاب نه وی لیکلي-علامه انورشاه کشمیریؒ د سختې بیمارۍ په دوران کښې به هم د کتابونو په مطالعه کښې مشغول وو- حکیم الامت مولانااشرف علي تهانویؒ د زرو نه زیات کتابونه لیکلي دی- حکیم سعید صاحب د طب اتیا لاکه نسخې اولیکلې، یو لاکه او شل زره صفحې ئې اولیکلې- همدرد یونیورسټی ئې جوړه کړه. د سندهـ پاتې شو، د دارلعلوم کراچۍ خزانچي هم پاتې شوې دې-

پوهه او سمجهدار خلق وخت لره صحیح استعمالولو سره هغه څه کوی او دنیا ته ښائی چه د هغې چاته څه توقع نه وی- د کامیابو خلقو د کامیابۍ راز د وخت قدر او د هغې صحیح استعمال دې- څوک چه هم دا نسخه استعمالوی، د کامیابۍ په ټریک باندې به چلیږی-

د ټولو نه اوله خبره دا ده چه وخت لره منظم کول دی چه څه وخت پاسیدل دی، بیا څه کول دی- یو ځل چه وخت منظم شی نو ټول ژوند به منظم شی- د څو کلونو پراته کارونه به په څو میاشتو کښې اوشی-

یو حکایت دې یو ځناور په یوه اونه باندې خپل غاښونه تیره کول، یوه لومبړه هلته کښې تیره شوه- هغې ورته اووئیل چه ستا څوک دشمن نشته دې بیا ته د چا دپاره غاښونه تیره کوې- هغه جواب ورکړو، ستا خبره خو صحیح ده خو اوس هسې هم فارغ یم، په دې وجه خپله وسله تیره

کومه ځکه چه کله دشمن سره د جنګ وخت راشی نو بیا به دومره وخت چرته ملاویږی، د وخت بچ کیدو دپاره اوس نه خپله وسله تیره کوم۔

نن صبا د خلقو په طبیعت کښې سستی او ناراستی راغلې ده۔ د نن کار صبا ته پریږدی۔ د ژوند مقصدونه متعین نه دی۔"بیا به کله" او د "صبا" عادت ئې جوړ شوې وی هر کله چه د عقل مند اوپوهه خلقو په کتاب کښې د"صبا" لفظ بالکل نه ملاویږی۔ دا لفظ صرف بې وقوف او د کم عقلو په ژوند کښې کثرت سره ملاویږی، چه د هغې په وجه سره هغوی وخت ضائع کوی او خپله دنیا او آخرت تباه کوی۔

د بد قسمتۍ نه د نن انسان، د ژوند تیرولو د صحیح طریقې نه خبردار نه دې، ډیر خلق دی چه په لږ وخت کښې ډیر زیات کارونه کوی، د صدو کارونه په کلونو کښې کوی، په سوؤنو منصوبې جوړوی او شل کارونه په څو میاشتو کښې مکمل کوی، ځکه چه هغوی خپل ژوند او وخت لره منظم کوی، داسې خلقو ته وژنری وائی۔

**مقصد متعین او معلوم کول:**

د انسان د ژوند مختلف مقصدونه دی۔ د مثال په طور باندې د خپل ژوند مقصد صرف د خپل ربّ عبادت جوړول دی چه زما وژن دا دې چه پوره وخت د اللہ تعالی عبادت به کوم۔ کولو کولو سره څه موده پس هغه یو نیک او زاهد او عابد انسان جوړ شی۔ چا د خپل ژوند مقصد علم حاصلول جوړ کړې وی، چا سیل سپاټې لره، نو چا خدمت خلق لره، چا خپل مقصد دا جوړکړې وی چه زه یو عظیم داعی یا مدرس یا بهترین خطیب جوړ شم یا چا لوې سوداګر، ډاکټر یا سیاست دان جوړول د خپل

ژوند مقصد جوړ کړې وی- حاصل دا چه د ژوند مقصد په زړګونو کیدې شی-

کله چه تاسو خپل وژن متعین کړو، د ژوند څه مقصد دې مقرر کړو، څه کار او منصوبې لره دې خپل مشن جوړکړو نو شاته مه ګوره، د ناکامو نه مه یریږه، او پښیمانه کیږه هم مه- په ابتداء کښې ناکامۍ کامیابو لره زیګوی-

دا آفاقی اصول دی چه ناکامۍ د کامیابو خوراک وی- ناکامی ته د کامیابۍ اوله پوړۍ وئیلې شی- لهذا د ناکامو پرواه کولو نه بغیر خپل کار جاری ساتل پکار دی، همداسې خلقو ته کامیابی ملاویږی-

د ناکامو ژړا کونکې کله هم نه کامیابیږی-آخر دا چه ژړا فریاد کول د هغوی مقدر جوړ شی- د دنیا لوې لوې کامیاب ترین خلق بې شماره ځله ناکامه شوې دی بیا مخکښې تلو سره کامیابی ورته ملاؤ شوې ده- د ایډیسن مثال واخله هغه د بلب جوړیدو دپاره زر ځله د ناکام کوشش باوجود کامیابی حاصل کړه- چا ترې تپوس اوکړو چه ایډیسن ته زره ځله ناکامه شوې نو ته مایوسه نه شوې-هغه جواب ورکړو بالکل نه، بلکه ما د 999 داسې طریقې ایجاد کړې چه هغې سره بلب روښانه نه شی کیدې- اوس لږ تصور اوکړئ چه ایډیسن خپل ځان دپاره یو مقصد متعین کړې وو او بیا ئې د هغې دپاره مسلسل کوشش کوو، کچرې هغه همت بائیللې نو نن به پوره دنیا داسې روښانه نه وه-

غرض دا چه د خپل ژوند مقصد متعین کول دی- ځکه یو بامقصد ژوند تیرول دی او یو کامیاب انسان جوړیدل- خپل ذاتی او

اجتماعی ژوند لره د بهترنه بهتر، د منظم نه منظم، بامقصد نه بامقصد جوړول دی- همدا کامیابی ده، په ژوند کښې خوب لیدلې پکار دی- مقصد لوې ساتل پکار دی- او بیا داسې خوب او مقصد لره لیدو سره رامخکښې کیدل دی نو بیا به کامیاب وی یعنی تلل په زمکه باندې خو نظر په آسمان باندې لهذا سوچ او خوب لوې کیدل پکاردی-

د کامیابۍ دپاره ضروری او بنیادی څیز خوب(وژن) دې، سوچ او مقصدیت دې- غریب هغه نه دې چه د چا په جیب کښې پیسې نه وی بلکه غریب هغه دې د چا چه خوب، سوچ او د ژوند مقصد نه وی- لوې خوب او لوې مقصد او سوچ خودبخود انسان لره موټیویشن ورکوی- او کله چه خوب لوې وی نو الله تعالی به ستا طاقت او اینرجی لره هم زیاتوی- لوې کار په وسائلو سره نه، لوې کار په جذبو سره وی-

هر انسان لره الله تعالی د څه مقصد دپاره پیدا کړې وی او په هغه څه نه څه صلاحیت ایخودلې دې- امام مالکؒ فرمائی : چه د انسان دوه پیدائشونه دی یو د مور د خیټې نه د دنیاخیټی ته راتلل، دویم پیدائش هغه دې چه کله هغه خپل صلاحیت تلاش کولو سره هغه اوموی چه زه د کوم کار دپاره دنیا ته راغلې یم- د غالب په خطونو کښې دا جمله موندلې شی چه د دنیا خوش قسمت ترین انسان هغه دې چه د هغه ذریعه د معاش او شوق یو دې- د دنیا هر بنده په کار کولو سره ستړې کیږی- د هر انسان پیدائشی مقصد هم هغه کار وی چه هغه محبت سره کوی او کولو سره نه ستړې کیږی-

د جدید ریسرچ مطابق په هر بنده کښې څه نه څه ټیلنټ ضرور وی او هغه د هغې په وجه سره ترقی کوی- خپل ځان کښې دننه کتل پکار دی چه الله تعالی په تا کښې دننه کوم قابلیت او صلاحیت پیدا کړې دې- ؎

*اپنے من میں ڈوب کر پا جا سراغ زندگی*
*تو اگر میرا نہیں بنتا نہ بن اپنا تو بن*

د ریسرچ مطابق نن د دنیا په اربونو سړو کښې ټوټل ۳۷ ټیلنټس موجود دی- په هر سړی کښې یو یا زیات ټیلنټ ضرور موندلې شی-

تاسو کچرې ترقی کول غواړې نو په دې فیلډ کښې څه اوکړه د کوم دپاره چه الله تعالی ته پیدا کړې ئې- خلق دې څیز له فالو کوی چه په مارکیټ کښې ټرینډ چلیدو، داسې نه دی کول پکار ځکه سکوپ فیلډ کښې نه وی بلکه په ټیلنټ کښې وی- مونږ نورو له کتو سره د فیلډ انتخاب کوو چه صحیح نه ده-

**وژن او مشن:**

وژن"مستقبل له لیدو" ته وائی یعنی د مستقبل هغه تصور چه کوم تاسو کتل غواړئ. په ذهن کښې چه تاسو کوم منصوبه سوچ کړې وی چه کاش! داسې اوشی-

په ټوله دنیا کښې د ټولو لویو او اهمو کارونو او منصوبو شروع د یو خوب، یو سوچ، یو خیال نه شوې ده، کیږی، او کیدلې شی-

انسان اول خوب وینی، بیا منصوبه سوچ کوی، بیا پلاننګ کوی او بیا درجه په درجه د عمل شروع کوی یعنی اول خوب بیا تعبیر او د دې نه پس تعمیر اودروی-

د خوبونو تعبیر هغه ته ملاویږي چه مسلسل محنت، متواتر عمل، مستقل مزاجی، په محنت او یقین سره کارکوی- دعا او یقین په ظاهره څه په نظر نه راځی خو په هغې سره لوې لوې کارونه کیږی، دا ناممکن لره ممکن جوړوی-

وژنرې سړې هره ورځ، هره ګهنټه، هر ساعت هغه لره د هغه وژن ته نزدې کوی- د هغه په ډکشنرۍ کښې لفظ د "نه" نه وی- په ناکامو باندې آرمان کول، په غلطو باندې اوښکې تویول او پښیمانه کیدل، د هغه په فطرت کښې نه وی-

هغه د اول قدم اوچتولو نه مخکښې زر ځله خو سوچ کوی خو د قدم اوچتیدو نه پس یو ساعت هم نه ضائع کوی، تردې پورې چه کامیابی د هغه قدمونه خکلوی- ځکه چه وژن کیدل د کامیابۍ کنجی ده- کچرې تاسو کامیاب کیدل غواړې نو بیا دنن نه وژن جوړکړئ او هغه کلیئر کړئ، د ژوند مقصد متعین کړئ، د خپل منزل د طرف یقین اوکړئ، په هر اعتبارسره سوچ اوکړئ چه مالره څه جوړیدل پکار دی او څه نه دی کول پکار-

تاسو د خپل خواهش مطابق کومه یوه شعبه هم چانړکړې- بیا د هغې دپاره شارټ ټرم اولانګ ټرم منصوبه جوړه کړئ- بیا محنت، پوره توجه کوشش، جدوجهد او مستقل مزاجئ سره مخکښې لاړشئ. شاته نه ګورئ تردې پورې چه په خپله منصوبه کښې کامیاب شئ. همت والا خلق په خپل مشنونو کښې کامیابیږی- تاریخ او تجربه همدا وائی-

وژن د مستقبل هغه تصویر چه تاسو کتل غواړې یا هغه مقصد چه تاسو ئې حاصلول غواړې او مش دې وژن لره د مکمل کولو مرحلې ته د رسولو نوم دې-

## منصوبه بندی(پلاننګ):

کله چه یوځل تاسو د خپل ژوند یو مقصد متعین کړو بیا تاسو ته د دې مقصد د حاصلیدو دپاره منصوبه بندی کول دی- د منصوبه بندئ کولو نه پس بیا مخکښې تلل دی-

د وړو وړو کارونو منصوبه بندی کول ښکار دی- مشهوره مقوله ده چه :

"چه کوم سړې د خپل کارونو منصوبه بندی نه کوی هغه په اصل کښې د ناکامو منصوبه بندی کوی"-

د کار شروع کیدو نه مخکښې منصوبه بندی نه کولو کښې څه نقصان دې؟ د دې متعلق حکایت دې چه :

یو هوښیار بوډا سحر ځنګل سره تیریدو، په لاره کښې لرګو ماتولو والا ئې اولیدو چه په خپله آرې سره ئې یو اونه کټ کوله، ماښام چه کله واپس شو نو هغه د لرګو ماتونکی ئې اولیدو چه هغه هم هغسې د اونو په کټ کولو کښې مصروف دې-

هغه د همدردئ په انداز کښې د هغه نه تپوس اوکړو: روره د پوره ورځې تیریدو باوجود هم ته ولې اونه نه شې کټ کولې؟ هټ کړ ورته اووئیل زما آرا تیره نه ده- بوډا اووئیل വروره تا به لږ ساعت دپاره بس کړې وو او آرا به دې تیره کړې وه- هغه ورته اووئیل چه ما سره دومره

وخت نشته دې- بزرګ ورته اووئیل کچرې تا سحر د کار شروع کولو نه مخکښې لږ شان وخت ویستلې وو او آرا دې تیره کړې وې نو د نن د محنت په بدله کښې به تا څو لرګی حاصل کړې وو-

کوم سړی منصوبه بندی چه د زیات نه زیات او د بهتر نه بهتر وی، د هغه کار به دومره زر د تکمیل مرحلې ته رسی- د ټولو نه مخکښې تاسو دا تشخیص اوکړئ چه تالره څه کول پکار دی؟ ستا وژن څه دې؟ ستا منصوبه څه ده؟ تاسو څه لوې کار کول غواړې؟ په کوم لائن کښې په کومو خطونو باندې کار کول دی؟ د کوم اهم کار او منصوبې په کامیابۍ کښې معلومات، صلاحیت او د قابلیت مجموعه پکار ده- معلومات، صلاحیت او د قابلیت د مجموعې نوم ته اهلیت وئیلې شی- چه مونږ ته د خپل وژن په حاصلیدو کښې مددرا کوی-

استیفن کوهن یو ډیر لوې لیکوال دې، هغه یو کتاب لیکلې دې چه د هغې ترجمه احسن بټ کړې ده- د هغه کتاب نوم دې"د کامیاب خلقو اووه عادتونه" په دې کتاب کښې ئې د هرې طبقې د کامیاب خلقو عاداتونه جمع کړې دی، بیا ئې په دې عادتونو کښې څه قدرې مشترکونو نه یو عادت خودلې دې چه کامیاب خلق خپل کارونو کښې زیات تر وخت په منصوبه بندئ کښې لګوی- دلته دوه خبرې د غور قابلې دی د کوم کس یا ادارې چه د ټولونه زیاته منصوبه بندی وی- په هغه طریقې سره به هغې ته کامیابی ملاویږی، د چا منصوبه بندی چه ناقصه وی په دې طریقې سره به د کامیابئ نه روستوکیږی-

داسې هم کیږی چه په شروع کښې یو مشن وی، جذبه وی، خو د ناقص منصوبه بندئ په وجه سره هغه مشن او جذبه ختمیږی او که د هغې دپاره منصوبه بندی صحیح کړې شی نو هغه کامیابیږی- د لوې کار کولو همدا اصل طریقه وی چه اول سوچ اوکړې او منصوبه بندی اوکړې- وئیلې شی چه شرمخ دخپل ښکار دپاره یو اوږده منصوبه بندی کوی، په شرمخ کښې دا خاصیت دې چه هغه سل کلومیټره فی گهنټې په رفتار سره 3.5سکینډ کښې حاصلوی- شرمخ کافی وخت مخکښې د ښکار منصوبه بندی کوی، بیا په عین موقعه باندې د دې خاصیت نه فائده اوچتولو سره په یو منټ کښې دننه دننه هوسئ ښکار کوی-کچرې انسان د هر کار صحیح منصوبه بندی اوکړی نو اصل کار ډیر زر کیږی-

زمونږ المیه دا ده چه مونږ خلق د خپلو کارونو منصوبه بندی نه کوو چه د هغې په وجه سره د ناکامئ سره مخ یو- هر کار په محنت او منصوبه بندئ سره کوئ نو ډیر زیات کارونه په زر پوره شی، دارنګه په خپل ذات کښې هم د نن نه د اهم کار تهوس منصوبه بندی کولو عادت واچوئ-

کامیابی پخپله نه حاصلیږی بلکه د هغې دپاره منصوبه بندی کول پریوځی او دا منصوبه بندی تاسوته کول دی- دارنګه د ګول طې کولو نه پس خپل خوب لره په حقیقت کښې د بدلولو دپاره تاسو ته د یو ښه او قابل عمل پلان ضرورت دې- د فوجیانو په شان یو ماسټر پلان خو ورسره دویم پلان هم جوړ کړئ دې پاره که چرې کله د غیرمتوقع حالاتو د وجې نه اول پلان ناکام شی نو دویم پلان دې اختیار کړې شی- یو ښه پلان د کامیابئ بنیاد دې-

یو د هوښیارتوب پلان د کامیابۍ طرفته اول قدم دې- پلاننګ وخت بچ کوی، د پلاننګ یومنټ لس منټه بچ کوی- په نورو الفاظو کښې تاسو د پلاننګ په وجه سره لس ګنا وخت او محنت بچ کولې شې- کله چه تاسو ماسټر پلان جوړکړئ نو توقع ساتئ چه په دې کښې د هره ورځې په قدر د ضرورت تبدیلیانې ، ترامیم، او اصلاح کول وی-

د پلاننګ د کامیابۍ کنجی ده- پلاننګ نه بغیر ستاسو خوب او ګول صرف یو تمنا ده. آرزوګانې زغلولو سره یو کم عقل شاه سوار کیږی- کچرې تاسو پلاننګ نه کوئ نو ناکامه به شئ.

## منصوبې په درې قسمه وی:

① لانګ ټرم پلاننګ (اوږدې مودې والا منصوبه بندی)

یعنی شل یا پنځوس کاله منصوبه بندی: څو پورې چه کیږی نو کار به کوم یا به اوکړم، د دې نه پس به زما ځوې، شاګرد کار کوی،دهغه نه پس دهغه زوې یاشاګرد،دا اوږده منصوبه ده-

② مډټرم پلاننګ (درمیانه مودې والا منصوبه بندی) یعنی لس، پنځلس کاله منصوبه-

③ شارټ ټرم پلاننګ (د لږې مودې منصوبه بندی) یعنی دوه ،درې یا پنځه کالو منصوبه۔

په قول د چا چه ډیر خلق د دې وجې نه لوې کار نه کوی چه مونږ له مړه کیدل دی او ډیر خلق د دې په وجه سره ډیر کارونه کوی چه کار کولو سره به مرو- د څه کار دپاره د خپل حده پورې سوچ کول ښه او مثبت رویه نه ده-

کچرې ژوند ډېر مختصر غوندې دې خو کار کونکی په دې لړه موده کښې ډېر لوې لوې کارونه سرته رسوی- فرنګیانو دومره کار اوکړو چه د هغوی د دماغو رګونه خوله شو او مونږ دومره کار هم نه شو کولې چه زمونږ بدن خوله شی- د کار کولو دپاره همت، محنت او مستقل مزاجی پکار ده-

د ترقئ او کامیابئ درې سیړهئ وی:

① اوله سیړهئ محنت دې،کچرې تاسو سحر، غرمه او ماښام په دې درې وختونو کښې محنت کولې شې نو ۳۰ فیصده به کامیاب شې-

خو افسوس چه زمونږ د قوم لس کم سل فیصده خلق سست او آرام طلبه دی، محنت نه کوی، تاسو چه کله هم محنت شروع کړې نو د لس کم سل فی صده خلقو د فهرست نه به اوځې او لس فیصده محنتی خلقو کښې به داخل شئ او د ترقئ دپاره په اهل خلقو کښې به شمارشئ۔

② دویمه سیړهئ ایمانداری ده۔ ایمانداری د څلور عادتونو مجموعه ده :

(۱)د وعدې پابندی- (۲)د دروغو نه نفرت-

(۳)په ژبه باندې قائمیدل- (٤)دخپلې غلطئ اعتراف کول-

کله چه تاسو د محنت نه پس ایماندارئ لره د خپل ژوند حصه جوړه کړئ، وعده کولو سره پوره کوئ، دروغ په یو قیمت هم نه وایئ، په ژبه باندې یو ځل خبرې کولو باندې همیشه قائم یئ، او د خپلې غلطئ، کوتاهئ خامئ اعتراف کوئ نو ایمان دار به شئ- په ایماندارئ سره ۵۰ فیصده کامیابی حاصلیږی-

③ د کامیابئ دریمه سیړهئ هنرو مهارت (سکل، پروفیشنل ازم) دې-

ستاسو هنر تاسو ته باقی ۲۰ فیصده کامیابی درکوی-

لهذا تاسو به داسې سل فیصده کامیاب شئ-دا هیڅ کله نه شي کیدې چه د محنت او ایماندارئ ۸۰ فیصده کامیابئ لره پرېږدې صرف د هنر په ۲۰ فیصده زور لګولو سره د کامیابئ خوب وینی، یقینًا دا بې وقوفی ده-

## فریم ورک او ټیم ورک:

د وژن د تکمیل دپاره دوه څیزونو بنیادی حیثیت لری: یو فریم ورک دویم ټیم ورک. فریم ورک ته تاسو سانچه او ډهانچه هم وئیلې شې. ستاسو عقائد، نظریه، سوچ، فکر و فلسفه، اصول وقوانین او د نظام هغه مجموعه چه د هغې په بنیاد باندې تاسو فیصله کوئ فریم ورک ورته وئیلې شی.

د فریم ورک وژن سره حاصلول آسان کیږی، کار د بهتر نه بهترین او د آسان نه آسان ترین کیږی- فریم ورک نه د ادارې، تنظیم او کمپنئ کامیابی یقینی کیږی، د نورو دپاره نمونه او رول ماډل جوړیږی- د ادارې نوم د معیار علامت او ضمانت جوړیږی او په خلقو باندې اعتماد کوی-

په ماضی کښې د خلافت د دور نه واخله د بنوامیه، بنو عباس او خلافت عثمانیه پورې مسلمانانو د یو یو کار او د یو یو څیز ښه فریم ورک جوړ کړې وو نو په دنیا باندې ئې حکمرانی کوله-

تجربه ده چه د خیانت او بد دیانتی بهترین فریم ورک لره تباه کوی او دیانت او ایمانداری کمزورې فریم ورک لره د ترقئ معراج ته رسوی-

**ټیم ورک:**

د مشترکه اهدافو د حاصلولو دپاره په یوځاې کار کولو ته ټیم ورک وائی- ترقی همیشه د ټیم ورک په صورت کښې حاصلیږی- د کومې ادارې، کمپنۍ ملک و قوم ټیم ورک چه ښه وی نو هغه ترقی کوی- د ټیم ورک دپاره لازمی ده چه په دوی کښې د یو بل د برداشت کولو حوصله وی، وسیع ظرف وی-

په ټیم ورک کښې درې لوې قسمونه وی:

(۱) د اعلیٰ قسم افراد کوم ته پالیسی جوړونکی وائی- د هغې حیثیت د انسان د سر پشان دې-

(۲) د درمیانه قسم خلق- دا خلق جوړه شوې پالیسۍ لره نافذ کوی- د هغې حیثیت د انسان د لاس خپو په شان وی- دا د قوت نافذه مالک وی-

(۳) آخری قسمه خلق، ورکر، کارکن او ادارې کښې کارکونکی عام افراد، د هغې حیثیت د انسانی بدن د مینځمې حصې په شان دې-

څنګه چه د انسان په بدن کښې زړه، دماغ، لاس خپې، جګر، ګردې ټول صحیح وی نو انسان ته تندرست وئیلې شی دغه شان په کومه اداره یا په تنظیم کښې مشر، چیئرمین، ناظم، کارکن، نوکر، څوکیدار، جاروکخ تعاون اوکړی، د ټولو وژن او مشن یو وی نو بیا ادارې ترقی کوی، نو بیا هغوی په خپل وژن کښې کامیاب وی-

غرض دا چه د کامیابۍ او ترقۍ دپاره ښه فریم ورک سره سره ښه ټیم ورک هم ضروری دې ګنی د دائرو سفر به کوی او منزل به نه ملاویږی-

## مثبت ذهنی رویه:

په کومه شعبه کښې د کامیابۍ دپاره مثبت سوچ او د رویې کردار بنیادی دې۔ کچرې تاسو کامیابیدل غواړئ نو همیشه مثبت سوچ اوکړئ۔ د کامیابۍ په باره کښې سوچ اوکړئ نو کامیابی به حاصل کړئ. بهترینه توقع کوئ نو بهترین به حاصل کړئ۔تاسو منفی هم سوچ کولې شې او مثبت هم لهذا په دهیان سره سوچ اوکړئ ځکه چه تاسو څنګه سوچ کوئ هم هغسې به کیږی۔همیشه ښه او مثبت سوچ کوئ۔ کچرې تاسو ښه سوچ نه کوې نو کم نه کم خو بد سوچ مه کوئ۔د بد سوچونو نه بچ شئ بد سوچونه به ستاسو ژوندخراب کړی۔

معروف امریکی ماهرنفسیات ولیم جیمز یو ځل وئیلې وو چه د شلمې صدئ یو عظیم دریافت دا دې چه مونږ خپل ذهنی رویې لره بدلولو سره خپل ژوند لره بدلولې شو۔د هارورډ یونیورسټۍ د یو ریسرچ مطابق په کامیابۍ د مثبت رویې کردار 85فیصدده هرکله چه د ذهانت او تعلیم کردار صرف15فیصد دې۔د 1982ءپه یو سروې کښې94 فیصده کامیاب خلقو د خپلې کامیابۍ ذمه داری خپلې مثبتې رویې لره ګرځولې ده۔ د کامیابۍ په حوالې سره د یوپنځوس کاله ریسرچ نه معلومه شوه چه د کامیابۍ زیات تر تعلق د فرد ذهنی رویې سره دې۔

د څپلو جوړولو والا دوه کمپنیانو د خپل مصنوعاتو د مارکیټنګ دپاره خپل خپل نمائنده افریقې ته اولیږلو دې دپاره چه هلته څپلۍ خرڅې کړی۔ دواړه نمائنده ګان چه کله هلته اورسیدل نو هغوی ته حیرانتیا وه چه هلته اکثریت خلق څپلې نه اچوی۔ د یو کمپنۍ نمائنده

چه د منفی رویې مالک وو خپلې کمپنۍ ته اولیکل: ''چه دلته څپلې نه خرڅیږی ځکه چه دلته خلق څپلې نه استعمالوی''- د دویمې کمپنۍ نمائنده چه د مثبت ذهنی رویې مالک وو ډیر د جوش نه ډک خط اولیکلو چه : ''دلته به څپلۍ ښه خرڅې شی ځکه چه دلته اکثر خلق خپې ابله خپې ګرځی''-

د کامیابۍ سفر د مثبت ذهنی رویې سره شروع کیږی- هم رویه ددې خبرې تعین کوی تاسو د کامیابۍ سفرکښې چرته پورې تللې شې. ستاسو رویه ستاسو د اوچتوالی تعین کوی- د دنیا د ټولو عظیم کامیابو بنیاد په مثبت رویې سره دې- د کامیابۍ په سفر کښې مثبت ذهنی رویه د هر څیز نه اهم ده- دا علم، ذهانت، سرمایه، محنت او هنرنه هم زیات ضروری بلکه د هر څیز نه زیات ضروری دې- مثبت ذهنی رویه د کامیابۍ ضمانت دې هر کله چه په منفی ذهنی رویې سره څوک فرد نه شی کامیابیدې-

په ژوند کښې مثبت سوچ اعلی اخلاقی کردار لره تخلیق کوی، منزل ته رسیدل آسانوی- په مال کښې برکت راولی، اولاد لره صالح جوړوی، کامیابۍ راکاږی او د مادی کامیابۍ ذریعه جوړیږی-

دویم طرفته منفی رویه ده چه انسان لره ذهنی مریض جوړوی، مایوسی پیداکوی، حسد وسوزیدل او رشتو کښې تفریق کوی-

لهذا په منفی جذبو باندې قابو موندل ضروری دی لکه غصه، حسد، بغض،نفرت،جلن(خلقو باندې سوزیدل) انتقام، کینه،تکبر وغیره- مثبت سوچ د انسان د کامیابۍ سیرهۍ وی-

په دنیا کښې دوه قسمه خلق دی:

یو هغه چه سوچ کوی چه هر کار "ممکن"دې او دویم هغه چه سوچ کوی چه هر یو کار"ناممکن"دې۔ د"ناممکن"سوچ کولو والافرد ته هر نوې لوې او نا آشناخیال او پلان کښې خرابئ به نظر رائی او هغه د هغې ختمولو په حق کښې ووخت ورکوی او کوشش پریږدی۔ خو د "ممکن" سوچ کولو والا فرد پوهیږی چه هر نوې او ناآشنا او شاندار خیال او پلان کښې څه نه څه خرابی ضرور وی خو هغه پوهیږی چه دا ممکن دې لهذا هغه کوشش نه پریږدی ځکه چه هغه ته پته هم ده چه هر اهم کار په شروع کښې ناممکن محسوسیږی، هغه ته یقین وی چه په ظاهری طور باندې اګرچه مسئله مشکل ده خو الله تعالی د دې حل هم ضرور پیدا کړې دې-دې سوچ کولو سره د مسئل د حل کولو دپاره د هغه تخلیقی صلاحیتونه متحرک کیږی۔

د رویې مثبت جوړولو دپاره لاندینی کارونه ضروری دی:

① روزانه چه کوم کس سره هم ملاقات وی هغه ته همیشه مثبت خبره وایه، خواه څنګه حالات ولی نه وی-

② تقریبًا د هر څیز دوه اړخه وی، مثبت اومنفی-کامیاب خلق همیشه د مثبت اړخ ته ګوری او ناکام منفی- دارنګه هر څیز او په مثبت حالاتو کښې هم مثبت اړخ تلاش کوئ مثبت طرز عمل اختیاروئ- هر کله چه تاسو تلاش کوئ نو تاسو خاوره نه بلکه سره زره تلاش کړه ځکه چه سره زرپه خاوره کښې ملاویږی-

③ په هر خرابئ کښې د خیر اړخ تلاش کړئ،ملاؤ به شی- د زحمتونو

په ځای د الله رحمتونه شمار کړئ، د نقصان په ځای چه کوم بچ شی هغې ته ګوره-

④ سوچ اوکړه چه نور ئې کولې شی نو زه ئې ولې نه شم کولې-الله تعالی هر فرد لره د کامیاب کیدو دپاره جوړ کړې دې-

⑤ د فوری یا ''اوس''د کار کولو عادت خپل کړئ-کچرې تاسو مثبت رویې لره خپلول غواړې نو دې مقولې لره په زړه کښې کینوئ- چه ''اوس ګنی کله هم نه''د کار روستو کولو عادت همیشه دپاره پریږدئ.

⑥ د مثبت توقع او سوچ شعوری مشق اوکړئ- همیشه بهترینه توقع کوئ- تاسو چه څنګه توقع کوئ اکثر هم هغسې کیږی-

⑦ د منفی سوچونو، فقرو رویونه بچ شئ-''ناممکن''لفظ لره د خپلې ډکشنرې نه خارج کړئ- د هغې دپاره منفی سوچونو او رویو والا افرادو نه هم ځان بچ کړئ- د هغوی دپاره خپل غوږونه بند کړئ، خواه هغه ستاسو نزدې رشته دار ولې نه وی-دا عمومًا ناکامه خلق وی-

⑧ چه څنګه منفی خیال راشی، هغې لره فورًا په مثبت کښې بدل کړئ-د انسان په ذهن کښې په یو وخت کښې صرف هم یو خیال پاتې کیدې شی-کله چه تاسو بار بار داسې اوکړئ نو بیا به مثبت سوچ ستاسو عادت جوړشی-کله چه هم څوک فرد خپل منفی رویو لره په مثبت رویو کښې بدل کړی هغه خپل تقدیر لره بدلولې شی-

⑨ دماغو لره د منفی سوچونو نه محفوظ کولو دپاره ضروری ده چه هغې لره په مثبت کارونو باندې اولګوې- د دې نه علاوه په شعوری طور باندې عادتًا په خپل ذهن کښې ښه، او صفا ستره، طاقتور او مثبت خیالونه اچوه- باربار داسې کولو سره دا به ستاسو عادت جوړشی.

⑩ د خپلو جذباتو د اظهار دپاره همیشه مثبت او د جُوش نه ډک الفاظ استعمال کړئ- مثلاً کچرې څوک ستاسو نه د حال احوال تپوس اوکړی نو د جُوش نه ډک انداز کښې اووایه "زه ډیر زبردست او شاندار محسوسوم"-

⑪ د کامیاب، پرجوش او مثبت سوچ والا افرادو ملګرتیا اختیارکړئ-

⑫ د شکر رویه خپله کړئ- د مسائلو او مصیبتونو په ځاې رحمتونه شمار کړئ- بیا د دې رحمتونو دپاره د خپل رب شکریه اداکړئ. خصوصًا د شپې د اوده کیدو په وخت هغه نعمتونو لره شمار کړئ چه الله کریم ستاسو ته درکړې دی- مثلاً ایمان، صحت، علم، ښه فیملی، ښه ښځه، ښه خاوند، اولاد، تعلیم او دولت وغیره- بیا د هغې دپاره د زړه دګومې د خپل رب شکریه ادا کوئ- په تشکر سره مثبت رویه شکل مومی.

⑬ په خپل علم کښې مسلسل اضافه کوئ،څه کورس کوئ،څه ښه کتاب لولې، سیمینار اټینډ کوئ-

⑭ د تنقیدی سوچ په ځاې تعمیر سوچ خپلول او جوړول پکار دی-

⑮ د چا سړی یا کار یاخبره کښې صرف تنقیدی اړخ باندې نظر ساتل او مثبت او تعمیری اړخ لره نظر انداز کول منفی رویه ده-

## صحیح او په وخت فیصله:

د کامیابۍ انحصار په دوه اهم عناصرو باندې دې- یو زر فیصله او دویم په دې باندې ثابت قدم پاتې کیدل په دې فورًا عمل کول-

د کامیاب خلقو بنیادی وصف دادې چه دا خلق فیصله زر کوی خو بدلیږی روستو- دویم طرفته ناکام خلق فیصله روستو کوی خو

بدلیږی ډیر زر- زمونږ په ژوند کښې چه څه هم کیږی د هغې آغاز هم په فیصلې سره کیږی-

ناکامه خلق د غلطې فیصلې کولو د یرې د وجې نه فیصله نه کوی- غلطه فیصله کول، د فیصلې نه کولو نه بهتر دی-د غلطې فیصلې په صورت کښې تاسو ته صرف یوه بله فیصله کول دی او د فیصلې نه کولو په صورت کښې تاسو به د ناکامې خطره اخلې او د کامیابئ ځو اهم موقعې به ضائع کوې او غمگین ترین فقره "چه کاش ما داسې کولې" وائې-

بعضې خلق د فیصلې کولو دپاره د مثالی وخت انتظار کوی د مثالی وخت څه وجود نشته- عمومًا مثالی وخت "اوس" کیږی- اوس، گنی کله هم نه- مثبت ذهنی رویې والا فرد پوهیږی چه په هره فیصله کښې څه نه څه خطره ضرور وی- هیڅ یوه فیصله هم د خطرې نه آزاده او خالی نشته دې-

## د روستو کولو د عادت خاتمه:

د کامیابئ لوې دشمن کار لره د روسته کولو عادت دې-کامیاب خلق کله هم اهم کار نه روستو کوی ځکه چه کار روستو کولو والا کله هم کامیاب کیدې نه شی-د روستو کولو وجې نه دا کس د ډیرو موقعو نه فائده نه شی اوچتولې اوځو امکانی موقعې ضائع کوی-کامیاب خلق وخت نه ضائع کوی خصوصًا د کار په شروع کولو کښې هیڅ کله وخت نه ضائع کوی، هغوی زر کار شروع کوی او هغه سرته رسوی-

## د روستو کولو عادت لره ختم کړی څنګه:

- هر کار لره د مکمل کولو وخت مقررکړئ- دا یو ډیر مؤثرطریقه ده-

- کچرې کار مشکل یا لوې دې نو هغې لره په وړو حصو کښې تقسیم کړئ،روزانه یو حصه مکمل کوئ-
- د مشکل کار په سلسله کښې خپلې رویې لره بدله کړئ، هغې لره د مصیبت په ځاې چیلنج ګنړلو سره کوئ- ان شاء الله تاسو به اوکړئ شئ-
- د روستو کولو عادت لره د ختمولو دپاره د ټولو نه آسان کار اوکړئ او بیا مشکل-
- د سکون په حالت کښې سحر او د شپې د اوده کیدو په وخت دې فقرې لره باربار وائې "کامیاب خلق انتظار نه کوی"-
- کامیاب خلق ټول کارونه پخپله نه کوی، سوچ اوکړئ چه آیا څوک کس داسې شته چه داکار ستا نه په بهتره طریقه باندې کولې شی بیا دا کار په هغې باندې اوکړئ، عمومًاچه کوم کار تاسو ته ناخوښه وی تاسو هغې لره په بهتر طریقې لره نه شې کولې-
- د کار پوره کولو نه پس خپل ځان ته انعام ورکړئ، انعام هغه چه ستا ډیر خوښ وی- د وړوکی کار دپاره وړوکې او لوې کار دپاره لوې انعام ورکړئ- مثلاً څه ښه څیز خوړل- دوست ته فون کول- کتاب اخستل- شاپنګ کول وغیره-
- د روستو کولو عادت ختمولو یوه مؤثره طریقه دا ده چه د کار پوره کولو پورې خپل ځان د څه خوښ څیز، انعام وغیره نه محروم ساته-
- د کارونو ترجیح او د اهمیت په لحاظ فهرست جوړکړئ- اول اهم کار اوکړئ، نور روستوکښې، یعنې ترجیحات قائم کړئ-

## د مطالعې عادت:

د کامیابۍ او مطالعې خپل مینځ کښې ژور تعلق دې- د یوې اندازې مطابق په امریکه کښې په دې وخت کښې یو کروړ،کروړپتیان دی- د یو سروې مطابق یو عام امریکنې په کال کښې اوسطًا یو کتاب لولی هر کله چه یو کامیاب امریکنې په یو کال کښې ۱۲ نه۲۴ کتابونه لولی. او اسرائیلو کښې سالانه ۴۰ پورې کتابونه مطالعه کوی او هغه هم څو فیصده-

د ریسرچ نه ثابت شو چه ترقی یافته دنیا کښې لیډر مطالعه کوی- په مطالعه کولو سره لیډر جوړیږی- په هر هفته کښې کم نه کم ماهانه یو کتاب دې مطالعه کړې شی، بیا د دې جائزه واخلئ نظرثانی اوکړئ، د دې نوټس جوړکړئ او بیا د کتاب نه کم نه کم یو څیز(زیات وی نو بهتر) لره په عملی ژوند کښې استعمال کړئ، دغه شان تاسو به په یو شاندار ژوند تیرولو کښې د نورو خلقو نه زرمخکښې کیږې- څوک سړې روزانه یو گهنټه مطالعه کولو سره په پنځه کاله کښې په خپل شعبه کښې د عالمی سطح ماهر جوړیدې شی-

د پیشه وارانه مطالعې نه علاوه د غټو خلقو د ژوند حالات اولولئ. د شخصی پرورش په طرف یو اهم قدم خلقو لره لوستل دی-

ډیر کامیاب خلق سالانه ۲۰ با مقصده کتابونه لولی-کچرې تاسو صرف ۱۵ منټ مطالعه اوکړئ نو په یو کال کښې ۱۵کتابونه اولولئ- د کامیابۍ دپاره تاسوته کم نه کم ۳۰یا۶۰ منټه مطالعه کول به وی-

د برطانیې یو ښځې صحافی د پاکستان د یو لوې سیاسی پارټۍ د لیډرنه انټرویو واخیستله- هغه کتلو سره حیرانه شوه چه د دې سیاسی لیډر په کمره کښې کتاب نه وو- کله چه انټرویو چاپ شوه نو هغې طنزًا دا هم اولیکل چه د دې لوې پاکستانی لیډر په کمره کښې صرف یو کتاب او هغه هم د ټیلی فون ډائری وه-

د فرنګیانو کمال دا دې چه کتاب سره دوستی ساتی- هغوی وائی چه ریډرازاې لیډر- په ائیرپورټ د فرنګی په لاس کښې به کتاب وی، په ګاډی کښې په ناست وی کتاب به لولی،کچرې د بس راتلو انتظار وی نو د خپل هینډبیګ نه به کتاب راوباسی او لوستل به ئې شروع کړی- په فارغ وختونو کښې هغه په کتاب لوستلو سره وخت تیروی او مونږ خلق داسې وختونه په فضولیاتو کښې ضائع کوو-

زمونږ په نزد د کتاب کتلو ټرینډ نشته-په حقیت کښې زمونږ سره نه کتاب چهاپ کیږی نه لوستلې کیږی-کچرې چهاپ هم شی نو د زر پنځلس سو په تعداد کښې چهاپ کیږی او لوستلې کیږی-

کچرې علم زیاتول غواړئ او جهالت لره لرې کول غواړئ نو کتاب سره به دوستی جوړول وی، د کتاب کتلو ټرینډ او عادت به جوړول وی-

خلق په مجلسونو کښې کیناستلو سره غیبت ولې کوی؟ ددې د ټولو نه لویه وجه د خلقو سره د صحیح او قیمتی خبرې کولو دپاره نه وی-

د کتاب په مطالعې سره به تاسو ته په مجلس کښې دوئیلو دپاره او خودلو دپاره بهترینې خبری وی-

د نصاب نه علاوه د غیر نصابی کتابونو مطالعه کول پکار دی، د نصاب کتاب په امتحان کښې په کار راځی او تاته به په امتحان کښې نمبرې درکړی هر کله چه غیر نصابی (اضافی مطالعه)ستا په ژوند کښې په کار راشی او تا ته په ژوند (یعنی د ژوند په کارونو) کښې نمبرې درکړی۔

لټریچر هم هغه تعمیری لټریچر لوستل پکار دی چه د ژوند شعور پیدا کړی۔ دا به ستا لیول لره اوچت کړی۔

## د مطالعې قسمونه:

د مطالعې ډیر قسمونه دی۔ په هغې کښې بنیادی څلور قسمونه دی:

### ① د نصابی کتابونو مطالعه:

هرتعلیم یافته داسې قسمه مطالعه کوی۔ د نصابی کتابونو مطالعه ډیره بنیادی ده۔ د دې نه بغیر په امتحان پاس کیدل مشکل دی۔ په داسې قسمه مطالعه کولو سره مونږ ته سند او ډګری ملاویږی چه د هغې په بنیاد باندې مونږته ښه یا بده نوکری ملاویږی۔ په پاکستان کښې دیرش فیصده خلق داسې قسمه مطالعه کوی هر کله چه په ترقی یافته ملکونو کښې دا شرح سل فیصد لګ بهګ ده۔ خو زړه راخکونکې خبره دا ده چه داسې قسمه مطالعه د ترقۍ ضمانت نه دې۔

### ② دادب مطالعه:

دویم نمبر باندې د ادب مطالعې راځی۔ په دې کښې نظم او نثر دواړه شامل دی۔په داسې قسمه مطالعه کښې زیات تر شاعری، افسانه او ناول شامل دی۔ ادب په دوه قسمه دې۔یو ادب د ژوند دپاره۔ دا بامقصده ادب وی۔ ددې مقصد د خلقو ذهنونو او ژوندونو لره بدلول دی۔یعنی په

خلقو کښې مثبت تبدیلي راوستل دی- دویم قسم ادب، ادب دپاره د ادب دې- د داسې قسمه ادب مقصد ذهنی تفریح وی-په ادب سره انسان د ژبې اوبیان د باریکو نه خبردار شی چه دهغې په وجه سره هغه د خپل خیال اظهار په بهتر طور باندې کولې شی- ادب انسان ته تهذیب او ښائسته والې ښائی- عمومًا ادب د لوستونکی په ژوند کښې انقلابی تبدیلې نه راولی- زمونږ په نزد زیات تر مطالعه د داسې قسم ده، یعنی د قصو کهانیانو مطالعه- زمونږ په نزد اول خو د مطالعې عادت د نه کیدو برابر ده- چه کوم لږه ډیره کولې شی هغه عمومًا د قصو کهانیانو او د جاسوسۍ په ناولو باندې مشتمل وی-

## ③ معلوماتی مطالعه:

د مطالعې دریم قسم د داسې کتابونو مطالعه ده چه په هغې د فرد په معلوماتو خصوصًا جنرل نالج کښې اضافه کیږی چه د هغې په مدد سره فرد ډیر ښه خبرې اترې کولې شی- په خپلو معلوماتو سره خلق متاثر کولې شی د داسې خلقو سره د هر سوال جواب موجود وی-داسې قسمه مطالعې سره څومره زیاته ولې نه عمومًا په فرد کښې د تبدیلۍ ذریعه نه جوړیږی او نه په دې سره د کامیابۍ او خوشحالۍ دروازه کهلاویږی-

## ④ د ژوند بدلیدو والا مطالعه :

د مطالعې اهم ترین قسم هغه مطالعه ده چه ستاژوند لره په مثبت طور باندې بدل کړی-د افرادو او قومونو په ژوندکښې داسې قسم کتابونه بدلیږی-په دې کښې قرآن مجید، احادیث او د سیرت کتابونه شامل دی-په داسې کتابونو کښې د ژوند حالت (مثلاً حضرت عمرؓ،حضرت مجدد،

شاه ولی الله، شیخ الهند، امیر تیمور، صلاح الدین ایوبي او د مصری انقلابي حسن البناء رحمهم الله وغیره) ډیر اهم دی-

اهم ترینه مطالعه، د خپلې متعلقې شعبې په باره کښې لوستل دی- روزانه کم نه کم یوه ګهنټه د خپلې شعبې په باره کښې اولولئ- په ورځ کښې یو ګهنټه لوستلو مطلب په یو هفته کښې تقریبًا یو ختم کول دی- یو هفته کښې یو کتاب لوستلو مطلب په یو کال کښې پنځوس کتابونه لوستل دی-کله چه ته په خپله شعبه کښې روزانه یوه ګهنټه لوستل شروع کړې نو ستا ژوند بدلیدل به شروع شی-

د نن دنیا بې حده مصروفه ده- د یو کس سره دومره وخت نشته چه هغه څه اولولی- لهذا زیات لوستل بهتر دی چه صرف منتخب او مفید علم حاصل کړې شی چه ستاسو د دنیا او آخرت په کامیابۍ کښې معاون وی-

داسې ټول مطالعه چه په تاسو کښې د څه قسمه مثبت تبدیلۍ ذریعه جوړه نه شی، نه پرهیز اوکړئ- صرف هم هغه مطالعه کوئ چه ستاسو د مقاصدو په حاصلولو کښې مددګار ثابت وی او ستاسو د کامیابۍ ذریعه وی، داسې علوم چه په کوم سره تاسو ته څه فائده نه حاصلیږی، هغې لره لوستل خپل وخت ضائع کولو په شان دی او وخت ضائع کول د ژوند ضائع کولو په شان دی-

همیشه څه کتاب یارساله د ځان سره ساتئ دې دپاره چه فارغ وخت نه ضائع کیږی، په دې فارغ وخت د هغې مطالعه دې اوکړې شی- بعضې پوهه خلق دبس او جهاز وغیره د انتظار کولو په وخت کښې یا د

سفر په دوران کښې مطالعه کوی-دغه شان دغه وخت لره د ضائع کولو په ځاې د هغې نه فائده اوچتوی- په ښه کتابونو باندې مشتمل خپله لائبریری جوړه کړئ- د هغې دپاره د خپل آمد نه کم نه کم درې فیصده داسې کتابونه باندې ضرور خرچ کړئ- درې فیصده دا سرمایه کاری ستا په آمدن کښې به څو ګناه اضافه به اوکړی-

## مطالعه څنګه اوکړې شی؟

د څه نان فکش کتاب لوستلو بدترینه طریقه دا ده چه تاسو هغې لره یو طرف نه شروع کړئ- د داسې کتاب نه په بهتر طور باندې د فائده اخستو دپاره د دې مطالعې لره په څلور حصو کښې تقسیم دې کړې شی-

① د ټولونه مخکښې د کتاب سروې اوکړې یعنی د هغې سر سری جائزه واخلئ په دې وجه :

○ د کتاب عنوان اولولئ او بیاسوچ اوکړئ چه تاسو په دې کتاب کښې څه لولئ.

○ د کتاب د مطالعې نه مخکښې د عنواناتو فهرست اوګورئ. په کتاب باندې کړې شوې تبصرې اولولئ. د تعارف مطالعه اوکړئ- عمومًاپه تعارف کښې خودلې شی چه مصنف به دکوم اهم څیزونو ذکر کوی-اکثر وختونو کښې د کتاب تعارف یا آخری باب کښې د کتاب خلاصه ورکړې شوې وی- په دې صورت کښې د کتاب لوستلو نه مخکښې تعارف او د آخری باب په غور مطالعه اوکړئ-

○ ټول اهم عنوانات اولولئ، سوچ غور و فکر اوکړئ چه د باب (Chapter) بناوټ څنګه دې- دا هم نوټ کړئ چه معلوماتو لره په کوم اندازباندې تقسیم کړې شوې دی-

○ ټول ذیلي(Sub)عنوانات اولولئ- په دې سره د نورو اهمو معلوماتو اندازه کیږي-

○ د ټولو خاکو، چارټونو، تصویرانو او د نقشو په غور سره مشاهده اوکړئ- په هغې باندې ښه پوهه شئ، نوټ کړئ چه ددې باب سره څه تعلق دې- د ټولو سرخیانو او عنواناتو په غور سره مطالعه اوکړئ-

○ مقصد دا دې چه په تفصیلي مطالعه سره اول د ټول کتاب خاکه په ذهن کښې راشي- په دې ټول عمل کښې ۵نه۱۵ منټ نه زیات خرچ نه شي-په دې سره ستاسو یاد داشت ۶۰فیصده بهتر شي -

② د خپل ځان نه سوال اوکړه چه تاسو د کتاب د Topicپه باره کښې د اول نه څه پوهیږې او د دې په مطالعې سره مزید څه پوهیدل غواړې :

○ په دویمه حصه کښې په تیزئ سره د کتاب د پاڼړو شماره اوکړئ- د هرباب تعارفي او اختتامی حصه یا پیراګراف اولولئ- عمومًاپه دې حصو کښې اهم خبرې یا خلاصه ورکړې شوې وی- عمومًا د هر باب نه مخکښې پیراګراف یا ابتدائی په څو لکیرو کښې د باب خلاصه ورکړې شوې وی-

○ د هر پیراګراف اوله فقره اولولئ- دا عمومًا د پیراګراف بنیادی اهم فقره وی -

③ اوس د کتاب په غور تفصیلي مطالعه اوکړئ- اهم ترین حصو باندې د پوهیدو کوشش اوکړئ -

د لوستلو په وخت مضمون باندې پوهه شه چه د دې لب لباب څه دې -اهم ترین حصې تلاش کړئ -په خپل کتاب کښې د هغې لاندې لائن(کرښه) راکاږې او هغې لره ښکاره (High light)کړئ - په داسې کولو سره دآئنده کتاب اهم حصې سمدست په نظرا راځی-

○ د اهم نکاتو نوټس تیارکړئ-

○ کله چه د یو باب مطالعه ختمه کړئ نو څو منټو دپاره اودریږئ او د باب مرکزی خیال(Theme) لره په ذهن کښې راولئ- د مرکزی سوال باندې پوهیدو دپاره دخپل ځان نه سوال اوکړه -

○ چه په دې باب کښې مصنف اهم نقطه څه بیان کړې ده-

○ کوم خیالاتو (Ideas) او نکاتو(Points) لره د یو نه زیات ځل بیان کړې شوې ده-

④ په آخری حصه کښې د کتاب ختم کیدو نه پس په ټول کتاب باندې دوباره نظرثانی اوکړئ- اهم نکات کوم لره چه ښکاره کړې شوې وی کوم چه تاسو ځانله لیکلې وو، هغې لره دوباره په غور سره اولولې- د هرائی(Revision) زده کولو او یاد ساتلو کښې اهم کردار اداکوی- دې اوږدې مودې پورې معلومات به ستاپه ذهن کښې محفوظ پاتې شی-

**ښه تعلقات جوړول:**

هیڅ یو کس خواه هغه څومره ذهین او محنتی ولې نه وی ځانله نه شی کامیابیدې-د اوچتو کامیابو دپاره تاته به د نورو خلقو د تعاون ضرورت وی- د هرې کامیابۍ کهانی(قصه) خپل مینځ کښې د تعاون او مشترکه کوشش نتیجه وی- ذاتی تعلقات یو داسې زرخیزه زمکه ده چه د هغې نه ټولې کامیابۍ،کامرانۍ او کارونه ښکاره پیداکیږی-

هغه سړې ناکام دې چه د هغه څوک دوست نه وی۔هر سړی ته د ښه دوستانو ضرورت وی۔ ښه دوست نه صرف ستا معاون او مددګار وی بلکه هغه به ستاسو حوصله افزائی هم کوی۔د ښه دوست حاصلولو هم یوه طریقه ده چه ته پخپله ښه دوست جوړ شه۔

د هارورډ یونیورسټۍ پروفیسر ډیوډ د خپل پنځویشت کاله ریسرچ په بنیاد باندې دا نتیجه راویستلې ده چه په کامیابۍ کښې د ټولو نه زیات کردار ستاسو د دوستانو وی۔

کچرې تاسو لوې کامیابۍ غواړۍ نو خپل تعلقاتو کښې اضافه اوکړۍ۔ خو د نوې تعلقاتو جوړولو نه مخکښې زاړه تعلقاتو جائزه واخلۍ۔ ځانله کینۍ او د خپلو دوستانو فهرست جوړ کړۍ۔ په هغې کښې د هغه خلقو شناخت اوکړۍ، چه ناکامه او منفی دی، په چاکښې چه د ایماندارۍ کمې دې، چه په ډسپلن او ذاتی ضبطِ نفس کښې کمزورې دې،چه هر وخت تنقید او شکایتونه کونکې دې۔

مایوس، نا امید او منفی سوچ والا د نورو مذمت کوؤنکې او الزام پرې لګونکې وی، چه د خپلې ناکامۍ ذمه داری قبلولو دپاره تیار نه وی، د وخت قدر نه کونکی خلق، وعده نه پوره کونکې، دروغ ویونکی او چه پرجوش، پر امید او مستقل مزاج نه وی، داسې خلق چه د هغوی نه تاسو څه نه شې زده کولې، د داسې خلقو نه زر جدا ولې اختیار کړۍ۔

د تعلقاتو جوړولو په وخت د ډیر غور و فکر او حکمت او هوښیارتوب ضرورت وی۔ د مخکښې تللو نه اول تاسو د خپل ځان نه

تپوس اوکړئ چه "زه د کومو خلقو په مینځ کښې یم" غور اوکړئ چه ته د کومو خلقو سره ئې، د چا سره وخت تیروې-

## د تعلقاتو جوړولو طریقې:

- خلقو سره د رابطې دپاره وخت اوباسې- د هغوی سره رابطه کوئ- صرف د ضرورت په وخت کال مه کوئ-
- د نورو خلقو د مدد موقعې تلاش کړئ، خصوصًا د ضرورت په وخت د هغوی مدد کوئ-
- د ښه تعلقاتو دپاره هر وخت پرجوش اوسه، خلقه پرجوشه خلقو ته نزدې کیدل خوښوی- لهذا پرجوش، خوش مزاج، خندا خوشحاله ژوند په نظر راځی. خلق د شاتو د مچو په شان به ستانه ګیر چاپیره جمع وی-
- نورو خلقو ته عزت ورکړه، احترام اوکړه، تاسو ته به هم عزت او احترام ملاویږی.
- چا سره بحث و تکرار مه کوه-
- د نورو خلقو د خیالاتو او خواهشاتو سره پوره همدر دی ښکاره کړه-
- خلقو لره د هغوی غلطیانو باندې اشارتًا یا په جداوالی کښې متوجې کړه-
- د نورو عزت خیال کوئ-
- هر انسان ته ښه وئیلو سره هغه د ښه جوړیدو موقع ورکړئ-
- د نورو د ضروریاتو احساس کوئ-
- د نورو په هر ښه کار کښې حوصله افزائی کوئ، د نورو د حوصله افزائې موقع مه ضائع کوئ-

- کچرې د چا په باره کښې څه ښه خبره یاد کامیابۍ په باره کښې اولولۍ یا واورې نو هغه ته مبارک بادی ورکړه-
- کچرې د چا فرد د وجې نه تاسو ته څه خاص فائده رسیدلې وی نو شکریه اداکول مه هیروه- تحفه وغیره د بل کس کله هم مه هیروه-

## د ښه مُرشد ، رهنماانتخاب:

ځنګه چه دروحانی ترقۍ او اصلاح دپاره مرشد ضروری دې هم دغه شان د کامیابۍ دپاره هم رهنمائی پکارده-

په کومه یو شعبه کښې هم د کامیابۍ حاصلولو د ټولو نه آسانه طریقه داده چه تاسو څوک رول ماډل تلاش کړۍ- داسې کس تلاش کړۍ چه کامیابۍ ته رسیدلې دې- د خپل ځان دپاره یو ښه مرشد حاصلول، د کامیابۍ طرفته اول قدم دې- د مرشد په مدد سره تاسو زرکامیابیدې شۍ- هم ددې دپاره تقریبًا ټول کامیاب خلق، مرشد لری- د خپلې کامیابۍ یقینی جوړولو دپاره بهترین څیز چه تاسو تلاش کوۍ هغه ښه مرشد او د رهنما حصول دې-

مرشد مخکښې هغه ځاې کښې وو چرته چه ته تلل غواړې- هغه ته علم وی چه کوم څیز کار کوی اوکوم نه کوی، هغه د خپلو تجرباتو په بنیاد باندې تاته خودلې شی چه ته څه کوې اوڅه به نه کوې- پوهه خلق په خپلو تجرباتو سره، هر کله چه ذهین خلق د نورو نه تجربات زده کوی- ناکامه او احمقه خلق نه خپل او نه د نورو نه تجربات زده کوی-

مرشد په انتخاب کښې جلد بازی نه کوی- داسې مرشد تلاش کړۍ چه پرجوش، قابل، اهل او تالره په زده کولو باندې آماده کوی او

دلچسپي لري- او د هغه متعلقه شعبې ماهر وي- مرشد داسې وي چه د هغه تاسو په زړه سره قدر او احترام کوئ- تاته به مرشد خودبخود نه شي ملاویدې بلکه تلاش کول به وي-

د مرشد معلومات د سرو زرو غر وي- کیدې شي چه په دې غر کښې داسې ملغلرې پټې وي چه په هغې سره ستا کاروبار، مالی معاملات اداره یاد ذاتی ژوند نقشه بدله شي-

د مرشد خبرې لره همیشه په توجه سره اوره۔کمې خبرې کوئ، د مرشد سره کله هم بحث مه کوه۔د مرشد نه زیات د بهتر رهنمائې دپاره هغه ته د ځان متعلق زیات نه زیات معلومات فراهم کوه خو هغه لره د متاثره کولو کوشش مه کوئ۔مرشد ته مثبت فیډبیک ورکړه۔

د خلقو په مخکښې د مرشد تعریف کوئ- د هغه په باره کښې د اوچتو خیالاتو اظهار کوئ- د خپلې کامیابۍ کریډټ هغه ته ورکوې- هغه خراج تحسین پیش کړئ- مرشد ته کله هم بد مه وائې-

**ښه صحت**:

کهاوت مشهوردې چه صحت هزار نعمت دې-

تاسو د ټولې دنیا کامیابۍ حاصلې کړې، د دنیا مالدار ترین کس جوړ شې، خو که د دې نه د خوند اخستلو دپاره صحت مند نه ئې نو ستا هر کامیابی به بې معنې وي-

د ښهٔ صحت نه بغیر خو انسان د ډیرو نیکو نه هم محرومه کیږی۔ هغه روژې نه شي نیولې،حج او عمره نه شي کولې، په دنیا کښې دوه قسمه خلق خوش قسمت دی۔ یو هغه چه نشته نه کوی، سګریټ او

شراب نه څکي-دا دواړه څیزونه نه صرف د کس د عمومي صحت دپاره ډیر نقصان ورکونکي دي بلکه مردانه قوت لره هم په بدې طریقې سره متاثره کوي.

دویم هغه کسان چه ورزش کوي- د صحت په حوالې سره مشهور امریکنې مزاح کونکې مارک ټوئین ډیر خوندوره خبره کړې ده:

”کچرې تاسو صحت مند اوسیدل غواړې نو هغه څیزونه خورئ چه تاسو خوړل نه غواړئ مثلاً سبزیانې او هغه کوئ چه کوم تاسو کول نه غواړئ مثلاً ورزش“-

کامیاب خلق صحت مند خلق وي- د پوره کامیابئ دپاره انسان ته د پوره محنت ضرورت وي او د پوره محنت دپاره تاسو ته به د پوره توانائې ضرورت وي- بیا د پوره توانائې دپاره تاسو ته د متوازن خوراک، ورزش، آرام او تفریح وغیره ضرورت وي-

## متوازن خوراک:

د ښه صحت دپاره ضروري ده چه ستاسو خوراک متوازن وي- په هغې کښې پروټین(لحمیات)لکه غوښه، اګۍ، پۍ، کلیجی او کبان او کاربوهائیډریټس(نشاسته)لکه چینی، ګړه، شکر، مټهائی، چاکلیټ، شات، وړه، کهجور، د مکئ وُرتې دانې، د غنمو روټې، ډبل روټې او د ګنی رس، چکنائی(Fats) لکه غوړی، د خوراک تیل، چربی، کُچ، مونګ پهلی، ملائی، معدنیات(Minerals)او وټامن وغیره شامل وي-

زمونږ سره عمومًا رواج دې چه هر سړې همیشه په ناشته کښې

هم یو څیز خوری- دا هم په څه لحاظ سره صحت مند رویه نه ده-په هر خوراک کښې ورائټی کیدلې پکار دی خصوصًا ناشته همیشه یو قسم نه وی، په دې کښې ادل بدل وی-

د ماهرینو خیال دې چه ناشته پوره کول پکار ده ځکه چه تاسو ته پوره ورځ کار کول وی- د یو ریسرچ نه معلومه شوه چه هغه ماشومان چه پوره ناشته کوی، د هغوی په سکول کښې کارکردګی ډیره ښه وی- هغه ماشومان چه ناشته نه کوی هغوی سکول ته لاړشی غیر معیاری څیزونه خوری د مختلف بیمارو ښکار کیږی-

د ماهرینو خیال دې چه مونږ ته د اوبو زیات استعمال کول پکار دی، په یوه ورځ کښې کم نه کم لس ګلاس څکل پکار دی- خصوصًا سحر پاسیدو سره په نهره باندې دوه ګلاسونه څکل د معدې د څو بیمارو دپاره شفاده- بهتر ده چه اوبه هیمشه د روټۍ نه مخکښې دې اوڅکلې شی یا په مینځ کښې- د روټۍ نه سمدست پس د اوبو څکلو عادت پریږدئ-

د ښه صحت دپاره د خوراک د وختونو اهمیت ډیرزیات دې- ناشته سحر وختی دې اوکړې شی- زمونږ اکثر په کورونو کښې ناشته، لس یولس بجې کولې شی- د غرمې روټې دوه بجې خوړل پکار دی د شپې روټۍ لازمًا د ماښام نه پس سمدست دې اوخوړلې شی- په ټول ترقی یافته ملکونو کښې د خوراک هم دا وختونه دی- دغه د اوده کیدو پورې به کافی حده پورې خوراک هضم شوې وی- د بد قسمتۍ نه زمونږ د شپې روټۍ لس یولس بجې خوړلې شی- د دې نه پس خلق د اوده کیدو دپاره بسترې ته ځی چه د هغې په وجه سره په خیټه کښې چربی جمع کیږی- په

ورځ کښې درې ځله په مړه خیټه د خوړلو په ځاې څلورپنځه ځله لږلږ د صحت دپاره فائده مند دې- د حضورﷺ ارشاد دې چه خوراک همیشه چه لوږه درته اولګی نو اُودې خوړلې شی-

درې سپین څیزونه د صحت دپاره زهر دی- دارنګه مالګه، چینی او د میدې استعمال دې کړې شی-

د اوږد عمر دپاره ستاسو د بدنی او ذهنی لحاظ سره صحت مند کیدل ضروری دی- عمومًا لیدلې شوې دی چه هغه خلق چه متوازن خوراک کوی، نشه نه کوی، په هفته کښې درې ورځې ورزش کوی داسې خلق نه صرف په بدنی او ذهنی لحاظ سره صحت مند وی بلکه د هغوی عمرونه به هم اوږده وی- دغه شان هغه د الله تعالی د بندګانو زیات خدمت کولې شی-

**خوب**:

د ښه صحت دپاره متوازن غذا، نشې نه پرهیز، او ورزش نه علاوه د آرام هم سخت ضرورت دې- آرام کښې دوه څیزونه شامل دی-

1: خوب 2:تفریح

د ښه صحت دپاره پوره خوب بې حده ضروری دې- ستاسو خو په هر صورت کښې پوره کیدل پکار دی- د شپې د خوب نه علاوه په ورځ کښې پنځلس شل منټه قیلوله هم د سړی د توانائې دپاره ډیر فائده مند ده- په دې سره تاسو د شپې دکار او عبادت دپاره تازه دم کیږې او په دې لږ شان وخت کښې زیات کارکولې شې-

د نبیﷺ معمول وو چه د ماسخوتن د مانځه نه پس به ډیر زر

اوده کیدو او د نیمې شپې نه پس به بیدار کیدو- اوسطًا نبی علیه السلام به څلورپنځه ګهنټې آرام فرمائیلو او بیا به ئې په ورځ کښې د یو یا نیمې ګهنټې قیلوله فرمائیله- د نبی علیه السلام ارشاد مبارک دې:

﴿قِیْلُوْا فَاِنَّ الشَّیْطَانَ لَایَقِیْلُ.....﴾

"قیلوله کوئ، ځکه چه شیطان قیلوله نه کوی"-

دغه شان نبی ﷺ فرمائیلي دی:

﴿وَبِالْقِیْلُوْلَةِ عَلٰی قِیَامِ الَّیْلِ.....﴾

"او د شپې د قیام دپاره د قیلولې نه مدد واخلئ"-

دغه شان صحابه کرامؓ به هم د شپې اوسطًا څلورونه پنځه ګهنټې اوده کیدل او قیلوله به ئې هم کوله، همدا معمول زمونږ د تابعین، تبع تابعینو او د نور اکابرینو د امت وو-

مونږ خلق د شپې ناوخته څملو او بیا سحر لس بجې پاسو- د سحر مونځ والا خلق هم د سحر مونځ نه پس اوده کیږی، حالانکه د اسلام په تاریخ کښې کتلې شی چه دا چا معمول هم نه وو بلکه مونږ ته دا تعلیم راکړې شوې دې چه سحر وختی کارونو ته ځې، دارنګه نبی علیه السلام ارشادفرمائی :

﴿بُوْرِکَ لِاُمَّتِیْ فِیْ بُکُوْرِهَا.....﴾ [المعجم الکبیر لطبرانی]

زما د امت برکت په سحروختی کښې دې-

دغه شان په جامع ترمذی کښې دی:

﴿اَللّٰهُمَّ بَارِکْ لِاُمَّتِیْ فِیْ بُکُوْرِهَا....﴾

اې اللّٰه!زما د امت په سحروختی کښې برکت واچوې-

دغه شان په ''مسنداحمد'' کښې دی:

﴿اَلصُّبْحَۃُ تَمْنَعُ الرِّزْقَ....﴾

د سحر خوب رزق لره منع کوی۔

د دې احادیثو او ارشاداتو په رنړا کښې کتلې شی چه نن زمونږ په کورونو کښې بې برکتی ده، نحوست دې، پریشانی ده دمال زیات کیدو باوجود هم نه پوره کیږی۔ د کور ټول افراد ګټی او بیا هم اخراجات نه پوره کیږی۔ دابې برکتی نه ده نوځه دی؟ برکت دې ته وائی چه مال کم وی او ضروریات ترې پوره شی۔ بې برکتۍ په وجوهاتو کښې یو لویه وجه د سحر مونځ نه پس اوده کیدل هم دی۔ وئیلې شی :

''چه د کوم کور ښځه سحر وختی اوده کیږی، د هغې قسمت اوده کیږی''۔

او نن لوې او ماشومان، سړی او ښځې ټول د سحر مانځه نه پس اوده کیږی او ښه کلک اوده کیږی۔ نبی ﷺ حکم ورکړې دې چه د شپې وختی اوده کیږئ، هر کله چه مونږ د شپې ښه ناوخته بلکه د نیمې شپې نه پس اوده کیږو۔

دا خبره صحیح نه ده بلکه روزانه 8 ګهنټې خوب کول ضروری دی۔ هر کله چه مونږ د کامیاب او مشهور شخصیاتو د ژوند معمول اوګورو نو د دې اصول نه خلاف کار په نظر راځی۔ ها! دا خبره ضروری ده چه مناسب خوب اوکړې شی ځکه چه الله تعالی دا د سکون ذریعه جوړه کړې ده۔

د نن ټول ډاکټران هم دې خبرې لره منی چه کچرې خوب بهتر وی

نو د څلور ګهنټو هم ډیر دې- د خوب معیار بهتر کول ضروری دی، مقدار زیات حیثیت نه لری-

کچرې د خوب نه روزانه یوه ګهنټه بچ کړې نو په یوه میاشت کښې دیرش ګهنټې بچ کولې شې- په یو کال کښې 360ګهنټې به بچ کړې شی- په یوه ګهنټه کښې ورزش کولې شې، څه کتاب لوستلې شې، څه مطالعه کولې شې، څه فن زده کولې شې-کچرې دې وخت لره صحیح استعمال کړې شی نو واړه غټ په سوونو کارونه ادا کولې شی- د یو تحقیق مطابق کچرې انسان 65کاله ژوند تیرکړی نو په دې کښې 27 کاله په خوب کښې تیریږی- د خپل ژوند زیاتولو دپاره یو نسخه دا هم ده چه خپل خوب کم کړې شی-

دا خبره صحیح ده چه د کوم کس شپه منظمه نه وی، د هغه ورځ هم منظم نه شی کیدې- اوس سوال دا دې چه خوب کم او د هغې معیار بهتر څنګه کیدې شی؟ په کم وخت کښې پوره خوب څنګه اوکړې شی؟ خپلو شپو لره څنګه منظم کولې شی؟ د سحر خوب څنګه قربان کړې شی؟

د دې پنځه واړه اصول دی- په هغې عمل کولو سره په دې پیچیده مسئلو باندې قابو موندلې شې-

- اوله خبره دا ده چه تاسو د شپې وختی د اوده کیدو عادت جوړ کړئ-
- دویمه خبر دا ده چه چه د خوب خرابونکی څیز نه پرهیز اوکړئ، مثلاً منشیات، مسکرات،چائے،قهوه،پان سګریټ وغیره بالکل پریږدئ -

○ دریمه خبره داده چه د نیمې ورځې نه پس یوه یانیمه ګهنټه قیلوله لازمی کوئ- خوب راشی یانه دآرام او قیلولې په نیت سره څملئ -

○ څلورمه خبره داده چه سحر وختی د پاسیدو اهتمام کوئ- هغه وخت کار کوئ- د کار کولو دا بهترین او د ټولو نه ښه وخت دې-

○ پنځمه خبره دا ده چه د خپل 24ګهنټو وختونو لره منظم کړئ- ځپله هم منظم شئ او خپله بچو او ماتحت عملې لره او افرادو هم منظم کړئ-

## ورزش:

ټول لوې کارونه، اهم، کامیاب او وژنری خلقو کښې په اووه لوې عادتونو کښې یو مشترکه عادت ورزش کول هم دی-

ورزش نه کول نه صرف د بدنی بلکه د ذهنی صحت دپاره هم فائده مند او ضروری دې- چاځه ښه وئیلې دی چه د لوبو یو ګراونډ د څو سکولونو نه بهتر دې- هغه قومونه چه باقاعده ورزش کوی د هغوی مجموعی صحت ډیر بهتر وی- بیماری کمه او عمر زیات اوږد وی- داسې خلق په ذهنی طور باندې چاک وچوبندوی-

په باقاعده ورزش سره لاندینی فائدی حاصلیږی:

① په ورزش سره ستاسو د خوب عادت بهتر کیږی-

② په ورزش سره ستاسو په اعتماد کښې اضافه کیږی-

③ په ورزش سره په ذهنی غم او پریشانئ کښې کمې راځی او تاسو به زیات خوشحالئ ئې-

④ په ورزش سره د دننه زخمونو خلاف قوت مدافعت حاصلیږی-

⑤ په ورزش کولو سره مونږ خپل مسائلو لره هیرو-

⑥ په ورزش سره ستاسو د بدن خطوط بهتر کیږی-

⑦ د ورزش کونکی ماشومانو تعلیمی کارکردګی بهتر کیږی-

⑧ په ورزش سره د معدې خرابیانې لرې کیږی-

⑨ په ورزش سره د مسائلو د حل کولو صلاحیت کښې اضافه کیږی-

⑩ په ورزش سره وزن کښې کمې راځی-

⑪ ورزش تالره د ډیرو بیمارونه بچ کوی-

⑫ په ورزش سره ستاسو عمر زیاتیږی-

د بد قسمتۍ نه زمونږ مذهبی، سیاسی لیډر او د علم او عقل خاوندان اکثر ورزش نه کوی-

## آرام او تفریح:

کچرې تاسو د ژوند د کوشش او د پریشانو نه ستړې شوې ئې یا تنهائی او غم محسوسوې نو روزانه پنځه منټه تفریحی سیل کوئ- د هغې دپاره دا مشق اوکړئ، په آرام سره په کوم ځاې کښې څملې،کیناستې هم شې- بدن لره ریلیکس کړئ، سست ئې پریږدئ- لس اوږدې اوږدې ساه ګانې واخلئ، او په مزه مزه ئې د خلې نه خارج کړئ- سترګې بندې کړئ- د څه ښائسته او سکون ورکونکی څیز تصور اوکړئ-

## تفریحی سیل:

د بدن او ذهنی صحت دپاره آرام او تفریح ډیره ضروری دې- په بدقسمتئ سره مونږ نه کار کوو او نه ورزش کوو او نه تفریح کوو- په هفته کښې یوه پوره ورځ کار مه کوئ بلکه مکمل آرام او تفریح کوئ- تفریح هم ډیر ستړې کونکې نه وی- هر دوه میاشت پس دوه درې چهټیانې کوئ- په هرکال کښې دوه هفتې تفریحی کوئ-

# لیډر شپ (قیادت)

لیډرشپ حالاتو او خلقو لره منظم کولو او هغوی یو مخصوص یا مطلوب مقام ته بوتللو نوم دې- یعنی لیډرشپ په اصل کښې د لاره خودلو اهلیت دې- د قائدانه صلاحیت مطلب دادې چه نورو ته د خپل وژن وئیلو او هغوی د متاثره کولو صلاحت چه د هغې په بناء د مشترکه وژن حاصلیدل ممکن وی، قائدانه صلاحیت وئیلې شی- د نورو سره د خپل وژن د تبادلې کولو صلاحیت لره په مختصر انداز کښې داسې هم بیانولې شی چه د هغې په بناء باندې په نورو باندې اثر انداز کولې شی- نورو لره د متاثر کولو صلاحیت شاته د ټولو نه اهم څیز د وژن اهمیت دې- وژن څومره اهم وی نورو لره متاثر کول هم دومره به آسان وی-

دغه شان ښه ټیم کیدل پکار دی- مجلس شوریٰ مخلص کیدل پکار دی، ځکه چه قیادت، شوریٰ او ټیم نه بغیر د اهدافو حصول ممکن نه دې- پاورفل اداره هغه وی چه د هغوی فریم ورک او ټیم ورک مضبوط وی- تاسو پخپله سوچ اوکړئ کچرې په قیادت کښې اخلاص نشته ، فهم و فراست نشته، دوراندیشی نشته، صلاحیت نشته، ټیم ورک ځان سره د چلولو سلیقه نشته- د برداشت کولو حوصله نشته، مخکښې د تللو جذبه نشته، د وژن سره د زړه عقیدت نشته دې نو څنګه د ادارې وژن سرته رسیدلې شی؟

د ښه قیادت او د هغه د ټیم د خپلې ادارې د الټی میټ سه سل فیصده متفق کیدل اولین شرط دې- قیادت او لیډر هم د کار لیډ کوی،

لاره خودل وی،خپل ماتحت عملې لره منظم کول دی، د کارونو ښه پلاننګ کول وی- ښه قائد په مشکل ترینو حالاتو کښې هم همت نه بائیلی- د حالاتو په چکر کښې انختلې کشتۍ لره په آسانۍ سره د ویستلو هنر او طریقه پیژنی- په څه کار کښې د جلدبازۍ نه کار نه اخلی- د خپلې ادارې ماحول لره خوشګوار او سازګار ساتی- په لږ وخت کښې د زیات کار کولو فن پیژنی- د هغه په د فتری او کورنی ژوند کښې یو بیلنس وی- د خپلو عملونو په صلاحیتونو کښې د اضافې په فکر کښې لګیدلې وی- د قیادت په صفاتو کښې ''جمالیاتی حسن'' هم دې، ځکه چه هر څیز او د کار ښه او ښائسته کیدل هم لازمی وی- ددې نه بغیر په عوامو کښې مقبول نه شی کیدې- دغه شان د قیادت د اثرو رسوخ مالک کیدل هم لازمی دی، ځکه چه بعضې وختونو کښې د خپل اهدافو په حصولو کښې د دې هم ضرورت راځی- معلومات، صلاحیت او د قابلیت د مجموعې نوم ''اهلیت'' دې، چه مونږ ته د خپل وژن په حاصلیدو کښې مدد راکوی- په کوم اهم کار او د منصوبې په کامیابۍ کښې معلومات، صلاحیت او د قابلیت مجموعه پکار وی-

غرض داچه! چه په ذات او اجتماعی ژوند هغه خلق کامیابیږی په چاکښې چه د لیډرشپ صلاحیت موندلې شی- داسې خلق خپل کورنې او خاندانی ژوند لره هم خوشګوار ساتی- خوشحاله کوټکې خبره داه چه لیډر جوړیږی، پیداکیږی نه- لیډر د عام ذهانت او د ذهنی صلاحیتونو مالک وی- خو هغه خپل صلاحیتونه په یو خاص انداز سره استعمالوی- همدا څیز یو عام کس لره سپیشل لیډر جوړ وی- ډیر کم لیډران د لیډرشپ صلاحیت لره د قسمت سبب ګڼړی-

د لیډرشپ دوه قسمونه وی- اول کوم چه متاثره کیږی، هغه چه په کوم کښې د پیروکارو مرضی او همدردی شامل وی لکه چه د الله تعالی د نبی ﷺ یا زمونږ په ملک کښې د قائداعظم لیډرشپ وو- دویم لیډرشپ هغه دې چه د طاقت په وجه سره وی لکه د پاکستانی آمر جنرل پرویزمشرف لیډرشپ- داسې لیډر شپ د اقتدار د خاتمې سره ختم شی-

# د لیډر شپ بنیادی عناصر

د قائد اولیډر دپاره لاندینی اوصاف والا کیدل ضروری دی:

**نه ختمیدو والا جرأت:**

یو لیډر کښې غیر متزلزل (نه خوزیدونکی) جرأت وی، چه د هغې په بنیاد باندې د خپل ځان او د خپل ماتحت په باره کښې ورته پوره علم وی۔ هیڅ یو پیروکار د داسې سړی قیادت نه تسلیموی چه په کښې د خود اعتمادئ او جرأت نیشت والی وی (یعنی دا څیزونه پکښې نه وی)۔

**خود اعتمادی:**

خود اعتمادی د ښه لیډرشپ بنیادی کوالټی ده۔ ښه اوکامیاب لیډر لره خپل ځان باندې، خپل صلاحیتونو باندې او په خپل مقصد باندې ئې پوره اعتماد وی۔ هغه سړې چه په هغه کښې د خود اعتمادئ فقدان وی کله هم یو کامیاب لیډرنه شی ثابتیدې۔

**ضبط نفس:**

کوم سړې چه خپل ځان نه شی کنټرول کولې هغه کله هم نورو لره نه شی کنټرول کولې۔ د نفس ضبط کولو نه مراد دادې چه یو کس ته کوم کار په کوم وخت کول پکار دی، او دې کړی،خواه د هغه زړه دې کار لره غواړی یانه غواړی۔

**د مشنرئ کیدل:**

د لیډر بنیادی صفت دا دې چه هغه د مشنرئ ذهن والا وی۔ هغه ددې مشنرئ جذبې لره خپل ځان کښې او خپلو ماتحتو کښې نه ختموی۔

## دانصاف سخت احساس:

د راستۍ او انصاف د احساس نه بغیر کوم یو لیډرهم د خپلو پیروکارو نه عزت واحترام نه شی حاصلولې او نه ئې برقرار ساتلې شی۔

## د فیصلې قوت:

کوم کس چه په خپلو فیصلو کښې یکسو نه وی، په خپل ځان ئې اعتماد نه وی۔ داسې سړې د کامیابۍ سره د خپلو پیروکارو رهنمائی نه شی کولې۔ ښه لیډر د ډیر ښه قوتِ فیصلې مالک وی۔

## په منصوبو کښې قطعیت:

کامیاب لیډرته لازمًا د کار پلاننګ کول پکار دی او بیا په دې پلاننګ باندې عمل کول هم پکار دی۔ یو لیډر چه د قطعی عملی منصوبې نه بغیر صرف په اندازې سره کار کوی هغه د هغه جهاز په شان دې د کوم چه ریډار نه وی۔ داسې جهاز اوس وی که روستو د یو غټ ګټ سره جنګیدې شی۔ بهر حال لیډر منصوبه ساز وی او هر وخت څه نه څه مثبت منصوبه سوچ کوی۔

## زیات کارکول:

د یو کامیاب لیډر دپاره لازمی ده چه په خپله د خپلو پیروکارو نه زیات په کار کولو باندې آماده وی۔ کچرې لیډر زیات کار کولو سره مثال قائم کړی نو د هغه پیروکار به هم د هغه تابعداری کولو سره زیات کار کوی، چه په هغې سره تنظیم او اداره ښه ترقی اوکړی۔

**خوشګواره شخصیت:**

څوک هم د لاپرواه طبیعت والا کس کامیاب لیډر نه شي جوړیدې- لیډر شپ د عزت واحترام تقاضا کوی- پیروکار د یو داسې لیډر عزت و احترام نه کوی چه د خوشګوار شخصیت مالک نه وی. د خوشګوار شخصیت دپاره لاندینی صفتونو ضرورت دې:

- د نرمۍ، خوش اخلاقۍ او د تعظیم مظاهره اوکړۍ-
- کله چه تاسو چاسره ملاویږۍ نو چه ستاسو په مخ باندې مُسکا وی-په مُسکی کیدو سره د دوستانه رویې احساس کیږی- لاس چه ملاؤ کړې نو مضبوطۍ سره- هغه وخته پوره لاس مه پریږده کله پورې چه هغه دویم کس پریځودلې نه وی.
- کم وئیل کوه،زیات اوریدل کوه- نورو له په خبره کولو باندې راوچتوه.
- شکایاتونه مه کوۍ، الزام مه لګوۍ او مه تنقید کوۍ۔ کچرې تنقید کول ضروری وی نو جلتی مه کوۍ، د تنقید نه مخکښې تعریف اوکړۍ۔ کچرې چا له پوهول ضروری وی نو ځانله ئې پوهه کړۍ۔
- مهربان او شفیق جوړشۍ-
- د نورو خلقو د رویو او کردار روښانه اړخ تلاش کړۍ-
- ربنتونې او د زړه نه تعریف کوۍ-
- د خپلې غلطۍ اعتراف کوۍ، معذرت کوۍ- د نورو غلطۍ معاف کوۍ-
- خبرې اترې کوۍ خو بحث مباحثه کښې مه پریوځې-

- وعدې لره پوره کوئ-
- د خلقو شکریه ادا کوئ،خو دخلقو نه د شکریه توقع مه کوئ-
- قابلِ بهروسه او وفادار اوسئ- دې دپاره چه خلق په تاسو باندې بهروسه او اعتماد کولې شی-
- مخلص او ایمان دار جوړشئ-
- عاجزی او انکساری اختیار کړئ، د انکسارئ نه بغیر خوداعتمادی تکبر دې-
- د نورو خیال ساتئ، هغوی ته اهمیت ورکوئ-
- دوست جوړ شئ- دوستی قربانی غواړی، خود غرضی دوستئ لره تباه کوی-
- د همدردئ او قدرشناسئ اظهار کوئ- سوچ اوکړئ کچرې دویم کس ماسره داسې سلوک اوکړی نو زه به څه محسوسوم-
- د خپل ځان او د نورو عزت کوئ- تاسو عمومًا عزت ورکولو سره د نورو خلقو نه عزت حاصلولې شئ-
- باوقار جوړشئ، کمینه او غیر سنجیده مه جوړیږئ-

## جاذب نظر شخصیت:

- د جاذب نظر شخصیت دپاره ضروری ده چه تاسو د منفی خصوصیاتو نه خپل ځان بچ کړئ په هغې کښې څو دادی لکه :
- د لهجې لاپرواهی او حاکمانه انداز-
- د نمبر نه مخکښې وئیل-
- خپل ذکر باربار کول-

- بغیرد راغوښتو نه میلمه جوړیدل-
- بیهوده او پوچ سوال کول-
- په محفل کښې ذاتی او نجی خبرې اترې کول، چه د نورو دپاره د تکلیف ذریعه وی-
- بې وخته د نورو خلقو کورونو ته تلل-
- د نورو خلقو په ذات او د هغوی په جماعت باندې سخته نکته چینی کول-
- د نورو خیالاتو لره په ښکاره چیلنج کول-
- د خپل دوستانو په مخکښې د نورو متعلق دو بدخیالاتو اظهار کول-
- مخالف ته د نظریاتی اختلاف په وجه سره کنځل کول-
- هر وخت حکومت یا مذهب باندې نکته چینی کښې مشغول اوسیدل-
- طنزیه خبرې اترې کول،نوروخلقولره لاندې خودل-
- حسد او رقابت محسوس کول-
- بدمزاجی، غصه او د غصب اظهار کول-
- خود غرض کیدل- همیشه صرف د خپل مفادو خیال ساتل-
- الزام تراشی او پوچ پلیت وغیره.

**همدردی:**

کامیاب لیډر لره د خپل پیروکارو سره د زړه نه همدرد کیدل پکار دی- هغه د هغوی مسائلو باندې پوهیږی- د هغوی په غم درد کښې شریک وی او د هغوی حقیقی خیرخواه وی-

## مسلسل زده کړه:

دا خلق په هره مرحله باندې زده کړه کوی- په دې وجه مطالعه کوی،کورسز او کلاسز کښې شرکت کوی- د نورو اوری- هغوی مسلسل د خپل استعداد دائره وسیع ساتی- په خپلو صلاحیتونو کښې اضافه کوی، نوې مهارتونه او هنر زده کوی، زیات علم حاصلوی-

## خدمت خلق:

د ښه لیډرشپ یوه اهمه خوبي داده چه هغه د خدمت خلق دپاره وقف اوسی۔هر وخت دخدمت خلق دپاره ملاتړلې وی۔دې همیشه د نورو دپاره سوچ کوی۔

## مثبت رویه:

د هغه رویه همیشه مثبت، حوصله اوچته او پرامید وی- هغوی همیشه د ښه پوهې او ښه ګمان والا وی- مایوسی، ناامیدی او حوصله غورزیدو ته نزدې نه پریږدی- د هغوی جذبه د جُوش نه ډکه، اُمیدونه پوره او عزم او ارادې پوره وی-دا خلق په بدترین حالاتو کښې د اُمید لمنه نه پریږدی- لیډر همیشه دګټې سوچ کوی-

## رحم دلی:

د مقبول لیډرشپ دپاره رحم دلی، همدردی او نرمی او ورکړه بنیادی صفتونه دی- د خلق د زړه د سختئ نه لرې اوسی- دا رحمدله، همدرد او خلقو لره معاف کونکې وی، هغوی سره محبت کونکې وی-

**صبر وتحمل:**

د افرادو او لائحه عمل دواړو دپاره د صبر و استقلال مظاهره دې اوکړې شي- کامیاب لیډر د پیروکارو د طرفنه پیدا شوې مشکلات، کوتاهیانې او د ناکامو باوجود هم د صبر لمن نه پریږدی- د عارضی رکاوټونو او مزاحمت په مخکښې د وسلې غورزولو په ځاې دغر د ګټ په شان کلک ولاړ وی-

**پُرجوشه کیدل:**

ښه لیډر نه صرف د خپل مقصد حاصلیدو دپاره د جوش نه ډک وی بلکه دې جوش وخروش لره خپلو پیروکارو طرفته د منتقل کولو پوره صلاحیت لری- د جوش وخروش نه بغیر څوک هم عظیم مقصد نه شی حاصلولې-

**استقامت:**

کامیاب لیډرشپ دپاره ضروری ده چه هغه وخته پورې خپل کوشش جاری ساتی ترڅو پورې چه ګول حاصل نه شی- د ثابت قدمۍ او مستقل مزاجۍ نه بغیر څوک هم عظیم مقصد نه شی حاصلولې-

**د برداشت قوت:**

په دنیا کښې د ټولو نه لوې قوت، قوت د برداشت دې- د قوت برداشت نه بغیر کوم یو لیډر هم لوې لیډر نه شی جوړیدې- بدحالات، بدې خبرې، د ټولو د برداشت کولو صلاحیت لرل پکار دی-

**معتدل مزاجی:**

لیډر لره په جذباتی لحاظ سره معتدل کیدل پکار دی-حالات خواه څنګه هم ولې نه وی هغه د جذباتی کیدو په ځاې معتدل وی- نه ډیر غصه ناک او نه بې حس-

**عزت نفس:**

کامیاب لیډر د خپل ملګرو او کارکنانو د عزت نفس ډیر خیال ساتلو والا وی۔

**د متحرک کولو صلاحیت:**

ښه لیډر نور ولره د متحرک کولو، جوش ورکولو، ترغیب ورکولو، راوچتولو او کار طرفته مائل کونکې وی- د یو کار کولو دپاره د متحرک کولو عمومًا دوه طریقې دی:

① د ډېرلو نه زیات استعمال کیدو والا محرک یره ده مثلاً ملازم د نوکرئ ختمیدو د یرې نه کار کوی، دا یومنفی محرک دې-

② ډیر خلق د انعام او شاباش دپاره کارکوی، دا مثبت محرک دې-

د انعام څو صورتونه وی:

- مالی فائدې
- د تحفظ احساس
- عزت واحترام
- د کامیابئ احساس
- د فخر احساس
- په معاشره کښې خوښوالې
- د ذمه دارئ احساس
- پیژندګلو
- تعریف وتحسین

دښه لیډرمثبت محرک د لاندینی وجوهاتو په مدد سره خلقو لره متحرک کوی۔

# د اظهار خیال او حسنِ سلوک بنیادی اصول

کامیاب خلق صرف هغه نه دی چه زیات نه زیات فنی مهارت یا اهلیت لری بلکه د چا سره چه (ددې څیزونو) سره سره د اظهار خیال، د ښه سلوک،لیډرشپ او خلقو کښې دجذبې زیاتولو قابلیت هم وی، نو ددې سړی کارکردګی مثالی وی۔

## دحسن سلوک بنیادی درې طریقې

د هرچاپه زړه کښې عزت مندی، د سیرت او کاروبار بهتری او د آمدن ډیر زیات انحصار د خلقو سره د ښه سلوک په مهارت باندې دې۔

**اصول①:** تنقید، نکته چینی او د شکوې شکایت نه ځان ساتل!

څومره چه مونږ د تعریف خواهش مند یو هم دومره مونږ د مذمت نه یره کوو۔ د چا صرف خیال کول د بیوقوفۍ نه سیوا هیڅ نه دی۔ انسان خواه څومره قصور وار ولې نه وی هغه خپله ذاتی محاسبې نه مخ اړوی۔

**اصول②:** رښتونې د خُلوص نه ډک تعریف او حوصله اوچتول اوکړئ!

خلق د تعریف وتحسین دومره اوږی وی څومره چه دخوراک وی۔ داسې خلق هم شته چه کچرې هغه د خپل اهل وعیال او ماتحت باندې یوه ورځ نهره تیره کړی، نو هغه دې لره ډیر لوئ جرم ګڼړی خو هغه خپل اهل وعیال او ماتحتو لره یوه ورځ څه، په میاشتو بلکه ټول عمر د پرخلوصه دلجوئې نه محرومه ساتی او هغې لره جرم نه ګڼړی۔

**اصول③:** په بل سړی کښې خواهش بیدار کړئ!

دخپلې مرضئ مطابق دځه کار اخستلو هم یوه طریقه ده چه تاسو په هغه بنده کښې د هغه کار خواهش پیداکړئ کوم چه تاسو د هغه نه اخستل غواړئ-

د نفسیاتو اصول دی چه زمونږ د هر فعل دوه محرک وی، جنسی خواهش او د لوې جوړیدو شوق۔د انسانی فطرت د ټولو نه لوې خواهش د اهم جوړیدو شوق دې۔

د امریکې یو دولت مند او د کمپنئ مالک چارش شواب وائی:

"زما د ټولو نه لویه سرمایه زما هغه قابلیت دې چه د هغې په ذریعه په خلقو کښې جوش پیدا کوم"- په یو سړی کښې د جوهر راوچتولو هم یوه طریقه ده او هغه ده تعریف وتحسین او حوصله اوچتول- د یو کس د شوق ختمولو دپاره د دې طرز عمل د نقطه چینئ نه بد هیڅ یو څیز نشته- زه کله هم په چاباندې نقطه چینی نه کوم، په خلقو کښې تحریک پیدا کول زما فرض دی لهذا زه د عیب لټولو نه نفرت کوم اوکه ماته د چا څه خبره خوښه شی نو زه د زړه نه هغه ته داد ورکوم او په کهلاؤ زړه سره ئې تعریف کوم"-

غرض دا چه څوک هم په دې اصول باندې عمل کوی ټوله دنیا به د هغه سره وی څوک چه نه کوی نو هغه به یوائې پریخودلې شی-

# د خلقو په زړونو کښې د کور جوړولو، د خوښ جوړیدلو شپږ طریقې

## اصول①: په نورو خلقوکښې رښتونی دلچسپی اخله !

یو سړې په نورو خلقو کښې دلچسپي اخستلو سره په دوه میاشتو کښې د هغې څه زیات دوستان جوړولې شی څومره چه په دوه کاله کښې نورو لره په خپل ذات کښې په دلچسپئ اخستو باندې مجبوره کوی- په دنیا کښې د ټولو نه زیات دمشکلاتو سرمخ کیدل هغه سړی ته پریوځی او نورو خلقوته ترې هم نقصان رسی، چه په خپل رونړو بندګانو کښې دلچسپي نه اخلی او همداسې خلق د انسانی قسم د ناکامو سرچینه ده-

## اصول②: مُسکې کیږئ !

مسکی کیدل د ځنګل د اُور په شان خوریږی- تاسو چه مسکې شئ نو نور خلق به هم مسکی شی، په مسکی کیدو سره رضامندی ظاهریږی- خلقو سره د ملاویدو په وخت مسکې کیږئ- ستاسو د اول تاثر بنیاد ښه الفاظ، ښه ظاهری شکل وصورت او په رښتیا مسکې کیدل دی- رښتونې مسکې کیدل د یو بدترین انسان زړه هم نرم کوی- یو مسکراهټ بهترین کالنګ کارډ دې-نبیﷺ مسکراهټ لره صدقه ګرځولې ده چینی کهاوت دې چه کوم سړې خندا خوشحالئ والا نه وی هغه له دکان نه دی کهلاوهل پکار-

## اصول③: په نوم اخستلو سره آواز کول !

یادساتئ! چه د یو کس دپاره دهغه نوم دهغه دپاره دټولو نه زیات اهم ترین اوخوږ آواز دې- لهذا دخلقو نومونه اوپیژنئ،هغه یادکړئ بیاهغوی

په نوم سره په ډېر احترام سره مخاطب کوئ- د ښه خوشګوار تعلقاتو دپاره خلقولره د هغوی په نومونو سره رابلئ-

**اصول④: ښه اوریدونکې جوړشئ !**

نورو ته د هغوی د ذات متعلق د خبرو کولو موقع ورکوئ!

چه کوم سړې تاسو سره خبرې کوی د هغه خبره په پوره توجه سره اوریدل ضروری دی چه د دې لوې خوشامد نشته دې- یادساتئ ستاسو مخاطب ستاسو د مسائلو په نسبت په خپلو مسائلو، خپلو ضروریاتو او خپل ذات کښې د زرګونو درجو نه زیات دلچسپی لری- کچرې اوریدونکې په صبر او سکون او همدردئ سره واوری،نو د بد نه بد نکته چین به هم نرم شی-

**اصول⑤: د بل سړی په خبره کښې دلچسپی واخلئ !**

خلقو لره د متوجې کولو دپاره د خلقو خبرې په توجه سره واورې!........خلقو لره د خپل ذات په باره کښې په خبرو کولو باندې راوچت کړئ!

د چا سړی په زړه کښې د کور جوړولو همدا طریقه ده چه د هغه څیزونو متعلق خبرې اترې اوکړې شی کومو لره چه هغه ډیرې خوښوی- په دې د پوهیدلو زحمت کول پکاردی چه هغه په کوم کښې دلچسپی ساتی او د کوم څیز متعلق خبرې کولو سره هغه خوشحالیږی.

**اصول⑥: بل کس ته د هغه د اهمیت احساس ورکړئ او دزړه په کُومې سره ئې تسلیم کړئ۔**

د انسانی تعلقاتویواهم قانون دادې چه په بل سړی کښې د احساس اهمیت پیدا کړئ۔ د انسانی فطرت د ټولو نه لوئ خواهش خپل ذات ته اهمیت ورکول دی۔ د نورو په زړونو کښې د کور جوړولو یقینی طریقه دا ده چه هغه په لوې احتیاط سره دا باور ورکړې شی چه ستاسو شخصیت لوې دې او مونږ ئې په زړه سره منو۔ په قول د حضرت عیسیٰ علیه السلام :"د نورو خلقو سره داسې سلوک کوئ د څنګه سلوک توقع چه تاسو د هغوی نه ساتئ"۔

# خلقو لره د هم خیال جوړولو دولس اصول

**اصول①: تاسو په بحث وتکرار نه شې ګټلې !**

دحجت بازئ نه همیشه پرهیز کول پکار دی- هیڅ یو غلط فهمی هم په دلیل بازئ سره نه ختمیږی د هغې په ځاې حکمت عملی، حسن سلوک، د سمجهوتې او د حریف نقطه نظر باندې په همدردئ سره د پوهیدلو کوشش سره لرې کیدې شی - نفرت په نفرت سره نه ختمیږی بلکه په محبت سره ختمیږی-

**اصول②: د بل سړی د نقطه نظر احترام اوکړئ۔ چاته دا مه وائې چه هغه په غلطې باندې دې۔**

د خپلو خبرو اترو شروع هم داسې مه کوئ چه ”زه به تاسو ته ثابتولو سره اوښایم“دا خو یو ښکاره چیلنج دې-کچرې څوک سړې داسې خبره اوکړی چه ستاسو په خیال کښې غلط وی نو تاسو هغه ته داسې اووائې چه ” زه په غلطئ باندې کیدې شیم““کچرې زما نه څه غلطی اوشی نو اصلاح مې اوکړئ“دې فقرو کښې په رښتیاجادو دې- په نورو الفاظو کښې خپل خریدار،خاوند،ښځه یا مخالف سره جهګړا مه کوئ، هغه ته مه وائې چه ته په غلطئ باندې ئې هغه لره مه راپاروئ- بس لږد دې حکمت عملئ نه کار واخلئ او هغه دومره موقع ورکوئ چه هغه خپله غلطی پخپله تسلیم کړی-

**اصول③: که ستاسونه غلطی اوشی نو سمدست اعتراف کوئ په فیاضانه طوربا ندې ئې تسلیموئ !**

خپله وړه وړه خطالره هم اومنې چه په ظاهره ستانه شوې وی- د پردو شونډو نه خپله بدی اوریدلو نه د خپلې ژبې نه خپله بدی اوریدل آسان دی- دخپلې غلطۍ په اعتراف باندې زمونږ د مخلف رویه به یو کم سل فیصده فیاضانه شی- هر نادان په خپله غلطۍ باندې پرده اچولو کوشش کوی او هغه نادان چه خپلې غلطۍ لره تسلیموی هغه یقینًا د غیرمعمولی قابلیت مالک او د عام خلقو نه اوچت دې-

**اصول④: خبرې اترې همیشه په دوستانه انداز سره شروع کړئ !**

که د یوسړی زړه ستاد عداوت او نفرت نه ډ ک دې نو ته د ټولې دنیا په منطق سره هم خپل هم خیال نه شې جوړولې خو که مونږ هغه سره په نرمۍ او دوستانه طریقې سره پیش شو،او هغه سره مو نرم مخلصانه رویه اختیار اوساتله نو هغه لره په خپل هم خیال جوړیدو باندې مائله کولې شو-مهربانی،دوستانه رویه او تحسین، او د ټولې دنیا د غصې نه ډک الفاظ د خلقو طرز عمل لره ډیر زر بدلوی-چاته چه په خوراک کښې شات ملاؤ شی هغه زهر ولې خوزی-

**اصول⑤: د بل سړي د خلې نه د خبرو اترو په شروع کښې هم "ها" اووایه !**

د خلقو سره داسې خبرو سره د خپلو خبرو اترو شروع مه کوه په کومو سره چه د هغوی په خپل مینځ کښې اختلاف وی بلکه چه په کومو خبرو کښې چه اتفاق وی تاسو په هغې باندې زور ورکړئ- بل سړی لره د خپلو خبرواترو په شروع کښې په هاها وئیلو باندې مائله کړئ، په دې وجه په شروع کښې کچرې مونږ د نور خلقو د ژبې نه څومره ځله ها اوباسو، هم دومره زیات به په آسانئ سره خپل تجویز منلو باندې په به ئې مائله کړو-

**اصول⑥: بل سړي ته زیات نه زیات د خبرو موقع ورکړئ !**

اکثر خلق نورو لره د خپل هم خیال جوړولو کوشش کوی نو د حد نه زیات خبرې شروع کوی-داسې هیڅ نه دی کول پکار، دا طریقه خطرناکه ده-ترڅو پورې چه هغه خپل راوچت شوې خیالاتو لره نه تیروی نو ستاپه خبره باندې غور نه کړوی- په دې وجه په صبروتحمل او فراخه زړه سره د هغه خبرې واورئ- د هغه په خبرو کښې د ژور د لچسپې اظهار اوکړئ، هغه په خپلوخیالاتو باندې په پوره طور سره راوچت کړئ-

**اصول⑦: مخکښې سړي ته دا احساس ورکړئ، خپل خیال په بل سړي باندې په دا شان سره ظاهرکړئ چه دا محسوسه کړي چه دهغه پیش کړې شوې خیال په حقیقت دده خپل دې، ګویاچه دې هم ددې ذهن پیداوار دې۔**

خپل خیالات د نورو په غاړه په زبردستۍ سره اچول ډیر بد دی۔ آیا دا بهترنه دی چه تاسو صرف تجویز پیش کړئ دې دپاره چه بل سړی ته پخپله د نتیجې راوستلو موقع ملاؤ شی۔

**اصول⑧: په ډیره ایمانداری سره څیزونو لره د بل سړي په نقطه نظر سره د کتلو کوشش اوکړئ!**

یادساتئ! چه ستاسو مخاطب سراسر په غلطۍ کیدې شی خو هغه خپل ځان لره هیڅ کله داسې نه منی، لهذا د هغه مذمت مۀ کوئ- مذمت خو هر بې وقوف کولې شې بلکه نورو لره د پوهولو کوشش اوکړئ- پوهه، متحمل مزاج او د اعلی صفاتو والا نورو لره د پوهولو کوشش کوئ- د یو ساعت دپاره خپلې سترګې بندې کړې او په ټولو معاملو باندې د نورو په نقطه نظر سره د کتلو کوشش اوکړئ-

**اصول⑨: د نورو د خیالاتو او خواهشاتو متعلق ستاسو رویه همدردانه کیدل پکاردی۔**

د دلیل بازئ خاتمه کولو سره نورو لره داسې خوشحاله کړئ چه هغوی ستاسو خبره په توجه سره واوری۔ لهذا د خپلو خبرواترو شروع داسې اوکړئ، '' څنګه چه تاسو محسوسوئ، چه زۀ په دې کښې په حق باندې یم''۔ کچرې زه هم ستاپه ځاې باندې وې نو داسې به مې کول۔ دا فقره د جهګړمارنه جهګړمار سړی لره هم راځملوی۔ علم د نفسیاتو مطابق، د بنی نوع انسان د عالمګیر خواهش همدردی ده۔

**اصول⑩: د خلقو نیکو جذباتو لره متاثره کړئ !**

په فطری طور باندې د هر سړی د کوم فعل هم دوه اسباب وی: یو دا چه هغه څه کار په دې وجه کوی چه هغه دې ښه باندې پوهیږی او دویم دا چه واقعی هغه کار ښه کار دې په فطری طور باندې د هر سړی د کار دوه اسباب وی: یو دا چه هغه کار په دې وجه کوی چه هغه دې کار لره ښه ګڼری او دویم دا چه واقعی هغه کار ښه وی۔ لهذا خلق نیک مقاصدو لره خوښوی، په دې وجه خلقو لره بدلول دی نو د هغوی ښه جذباتو لره متاثرکړئ۔

**اصول⑪: خپل خیالاتو لره په ډرامائی انداز کښې پیشکړئ !**

د نن دور ډرامائی دور دې، صرف رښتیا وئیل کافی نه دې۔ رښتیاؤ لره واضح، دلچسپ او په ډرامائی انداز کښې به بیانول وی، تاسو ته به د

خپل ډرامائی اهلیت نه کاراخستل وی-فلم او ټیلی وژن والا هم داسې کوی، یعنی خپلې خبرې او کار لره په ښه طریقې سره د پریزنټ کولو دور دې- اصل حقائق د خلقو مخې ته، زیات وضاحت، زیات دلچسپ او زیات مؤثر طریقې سره پیش کول دی-

**اصول⑫: د بل سړی صلاحیتونو لره اوچیرړئ !**

د خلقو مړ روحونو لره د متاثر کولو دا داسې نسخه ده چه په دې کښې په نورو باندې د واړندې والی خواهش پیدا دې کړې شی- د نورو نه مخکښې تللو خواهش د خلقو دپاره میدان ته د راکوزیدلو چیړل ثابتیږی-

**لیډرجوړشئ ! بنیادی نهه اصول:**

د خلقو جذباتو ته خفګان هم اونه رسی، هغوی به زمونږ نه خفاهم نه شی او زمونږمنشاء به هم بدله شی-د دې بنیادی اصول نهه دی-

**اصول①: خپله خبره،بل سړی ته د پُرخلوص تعریف وتحسین نه شروع کړئ !**

دا نفسیاتی امر دې چه د خپلو خوبو تعریف اوریدلو نه پس ناخوښه خبره په لږه آسانئ سره برداشت کوی-

**اصول②: د خلقو توجه د هغوی غلطو طرفته په واسطې سره واړوئ !**

ډیر خلق د خپل تنقید آغاز د تعریف وتحسین نه شروع کوی

او په آخر کښې یو تنقیدی نقطه نظر باندې راتللو سره داسې ختموی چه د خلقو جذبات هم اونه چیړی-

**اصول③: په نورو خلقو باندې د نکته چینئ نه مخکښې خپلو غلطو لره ذکر کړئ !**

د عاجزئ او تعریف صحیح استعمال وی نو دا معجزه خودلې شی-

**اصول④: د حکم چلولو په ځاې سوال اوکړئ !**

د نورو په مخکښې تجویز پیش کړئ حکم مه چلوئ- په دې طریقې سره خلق خپلې غلطیانې بغیر د څه یرې نه تهیک کوی-

**اصول⑤: بل سړې د شرمندګئ نه بچ کړئ !**

د نورو خلقو په مخکښې دبچو یا د نوکرانو تنقید کوی او لږ خیال نه کوی چه په دې سره ده ته څومره تکلیف رسیږی- لهذا نورو لره د شرمندګئ بچ کول اهم خبره ده- خو په مونږ کښې څومره خلق په دې خبره باندې د غور کولو زحمت برداشت کوی-

**اصول⑥: تعریف اوکړئ !**

د معمولی نه معمولی ترقئ هم تعریف اوکړئ او هرې اصلاح لره ښکاره کړئ، په کهلاؤ زړه سره ډاډ ورکړئ او د زړه نه قدردانی کوئ! دارنګه زیات پر اثرلیډر جوړیدو دپاره دا اصول خپل کړئ-

**اصول⑦: د هرسړی تعریف اوکړئ دې دپاره چه هغه ددې تعریف په معیاربا ندې د پوره کیدو کوشش اوکړی۔**

کهاوت دې چه د بد ته بد اوایه خواه که په پهانسئ دپاره اوځیژولې شی د هغه اصلاح به نه وی خو بد ته ښه اووایه او اوګوره چه څه کیږی۔

**اصول⑧: حوصله افزائی اوکړئ ! غلطۍ لره قابل د اصلاح باور کړئ !**

نورو ته اووائې۔ دا کار ستا دپاره زیات مشکل نه دې، په تا کښې صلاحیت موجود دې۔ نو یقین اوکړئ چه هغه به د شپې خوب حرام کولو سره د خپلې اصلاح په سخت کوشش کښې اولګې.

**اصول⑨: د نورو نه کار په داسې طریقه واخلئ چه هغه ئې په خوشحالۍ سره اوکړي۔**

تاسو د بل سړی په مخکښې د څه کار تجویز په داسې شان سره پیش کړئ چه مخکښې ئې په خوشحالۍ سره قبول کړی۔

ابو معاویه محمد ایاز درانی
جامعه تبلیغ القرآن یوسف آباد پشاور
د تحریراختتام: ستمبر 2018ء

# مأخذ او د مزید مطالعې د پاره کتابونه


- کامیابی کے اصول — پروفیسر ارشد جاوید
- کامیابی کن لوگوں کو ملتی ہے — پروفیسر ارشد جاوید
- کامیابی — انور غازی
- زندگی ایسے گزاریں (سیریز) — انور غازی
- زندگی سے لطف اٹھائیے — دکتور محمد عبدالرحمٰن العریفی
- مؤثر اور کامیاب شخصیت — محمد بشیر جمعہ
- شاہراہ زندگی پر کامیابی کا سفر — محمد بشیر جمعہ
- پراثر لوگوں کی سات عادات — سٹیفن آر کووے (مترجم)
- میٹھے بول میں جادو ہے — ڈیل کارنیگی (مترجم)
- کامیابی کا پیغام — قاسم علی شاہ
- اپنی تلاش — قاسم علی شاہ
- کامیاب لوگوں کی کامیابی کا راز — مفتی اختر حسین بہاولپوری
- علماء کو جدید دور کا چیلنج — مفتی اختر حسین بہاولپوری
- پاجا سراغ زندگی — مولانا سید ابوالحسن علی ندوی
- کامیاب زندگی — خالد رحمٰن۔